# لومړی فصل

## دنویو پیړیو د پیل پیښې

الف:دمنځنۍ پیړیو په نیمایې کې مانوفاکتوررامینځ ته شو ، دمزدورانو له کارپرته له ماشین څخه ګټه پورته کېده،دنویوپیړیو له پیل څخه یعنې دانګستان له بورژوازي انقلاب څخه د فرانسې تربورژوازي انقلاب لورې مانوفاکتورونه سره یوځای شول اوپه ګډه یې سره کارکاوه ،دهغوشمېرپه پرمختللوهیوادونو په ځانګړې ډول په انګلستان کې مخ په ډېریدو وه.

داتلسمې پیړۍ په دوهمه نیمایې کې داسې ماشینونه چې داوبو دموتورپه واسطه یې کارکاوه ،راڅرګندشو ،البته دغه ماشینونه له پخوا څخه جوړشوي وو.په هرصورت ترڅو چې دبخارماشین جوړشو ،ددغه ماشین جوړیدو دتولید کچه لوړه کړه اوپدې ډول صنعتي انقلاب بریالی شو،کارخانې نظام رامینځ ته شو اوددغه نظام په جوړیدولو سره پرولتاریااوبورژوازي لمړی دفرانسې په انقلاب وروسته دمتحده ایالاتو ،روسې اوپه پای کې په نوروهیوادونو کې راڅرګنده شوې، تردې وروسته ډېرژر داوسپنې ډبرې اونفت دپاملرنې وړوګرځېدل .لمړی اوسپنه دلرګیو دسکروپه مرسته ویلې شوه اوداوسپنې ډبرې په رایستلو یې پیل وکړ.ددغه کار دپرمختګ لپاره اوسپنیز پلونه جوړشول اوداوبولارې هم دپاملرنې وړوګرځیدل. ۱۹ پیړۍ داوسپنې اوبخار پیړۍ ده ،په دغه دوره کې انسان دلمړي ځل لپاره میکانیزه تولیدته مخه وکړه، اوسپنه په ځانګړې ډول په ماشینونو ،اوسپنې پټلېو اوبخاري کښتۍ

ګانو په جوړولو کې استعمال شوه .نوځکه ویلای شو چه که چېرې دماشینونو استعمال ګټه نه درلودلای نوپانګوالو به دتولید له نویو لارو سره بلدیت نه وو پیداکړی اوهیله به یې درلوده ترڅو دتیر په څېر لاسي کارونو ته دوام ورکړي.

**زراعت**:دپانګوالې په دوره کې پدغه برخه کې هم لوی بدلونونه راڅرګند شول .په منځنیو پیړیو کې به ډېرې ځمکې شاړې پاتې کیدلې ،تله به حاصل نه ترلاسه کیده خودپانګوالې په دوره کې دغه نمیګړتیا لرې شوه.

په ځمکه والې پیرکې ځمکې په ۲یا۸ برخو ویشل کیدلې چې دهغو یوه برخه کرل کیده اوحاصلات به یې هم ډېرلږ وو ،وروسته په کرنه کې له کیمیاوي سرې څخه ګټه اخستل پیل شول چې وروسته تریولړازمېښتونو پرځمکو دحیواني سرې اواهکي موادو شیندل پیل شول،تردې وروسته له زراعتي ماشین څخه ګټه واخستلای شوه .حتی چې دریبلو ماشینونو جوړشول چې دغه ماشینونه داس په مرسته کش کېدل .خودغه ټول پرمختګونه په ۱۹ میلادي پیړۍ کې یواځې دلویو ځمکه والو په چوپړ کې وو.

همدغه مهال دامریکا متحده ایلاتو اوددغې لویې وچې په نوروبرخو ،اسیا اواسترالیا کې وروسته پاتې روشونو مروج ول،پدغه سیموکې ځمکه دابتدایې کرهنیز وسایلو په مرسته کرکیده.

**هوانوردي**:ډېروخت تیرشو ترڅو په پای کې انسان پدې بریالي شو چې دبالون په مرسته په هواکې پروازوکړي،په لومړي سرکې دغه کال له ستونزو سره مخ وو خو ډېر ژردنجات چترونه جوړشول چې دهغه په مرسته انسان بیرته ځمکې

ته راکوزیدل. لږ وروسته په فرانسه کې داسې بالون جوړشو چه له هایدروجن ځخه یکې استفاده کیده البته دغه اختراع ددغه هېواد دعلومو په اکاډمۍ کې وشوه خودغه مهال له بالونونو ځخه په پوځي کارونو کې ګټه اخستل کیده.

په امریکاکې خلک د(۱۸۲۱_۱۸۲۵ م) کلونو ترمنځ له هوانوردۍ سره بلدشول دغه مهال پوځي تکتیکونه په ببړه پرمختللي شوه، فولادي توپونه جوړشول ،چقماقي ټوپکونه لرې اوپرځای یې نوي پرمختللي ټوپکونه رامنځ ته شو چې دغه کارونو دتوپ اوټوپک اهمیت لاډېر کړ.

**ترانسپورت اومخابرات:**دلوکوماتیوتراختراع دمخه ماشین جوړشو .چې ورسره بخارۍ ګانې جوړې شوې.د ۱۹ پیړۍ په نیمایې کې دتلګراف پرمختللي دستګاه جوړه شوه اوپه همدغه پیړۍ کې دتلګراف داسې دستګاه جوړه شوه چې دبرق په مرسته یې کارکاوه.

**ښارونه اودژوندانه په طرزکې بدلونونه:**دبخاردماشین اختراع نه یوازې داوبو پرغاړې دفابریکو جوړیدل شونې کړل بلکه په هرځای کې دهغو جوړولو امکان پیداکړ. دکارخانه یې تولید پرمختګ دکارزیاتوالې له ځانه سره درلود.

د ۱۹ میلادي پیړۍ په لومړیو شلوکلونو کې په انګستان کې ښاري جمعیت ۵٪ وه پداسې حال کې چې په ۱۸۷۰ م کال کې دغه فیصدي ۹۲ ته پورته شوه.

دامریکاپه متحده ایالاتو کې په ۱۷۹۰ کال کې جمعیت ۳۱٪ وه چې دغه فیصدي په ۱۸۷۰ م کال کې شلوته وسیده.په ۱۸۷۰ کال کې دلندن نفوس ۳ میلونه اودوه سوه زره دپاریس یومیلون اواته سوه زره اودنیویارک یومیلون اوڅلورسوه زره تنوته رسیده دتولید دتاکتیکونوبدلون پرژوندانه هم خپل اغیزه درلوده ،د۱۸ پیړۍ په ورستیو کې ښارونه دڅراغونو په مرسته روښانه کېدل همدغه مهال له شمعو څخه ګټه اخستل پیل شول چې دغه اختراع درسي فزیک یوه ژابلوچکف ده .تیلي اوشمع څراغونه جوړشول البته لدغو ځیزونو ګټه په ۱۹ پیړۍ کې واخستل شوه،په تیرکې دچینو اوڅاګانو له اوبو څخه ګټه اخستل کیده خوورو ستره داوبو نلونه جوړشول ،همدارنګه عمومي کتابتونونه په ډېر ګړندیتوب زیات شول ،ورځپاڼې هم له نشر څخه راووتې.

**دپانګوالې ټولنې طبقات:** په پرمختللو اروپایې هیوادونوکې دروند صنعت وده کوله چې ورسره جوخت دبشریت په تاریخ کې پدغه ټولنه کې دوه نوې طبقې هم راڅرګندې شوې چې یوه صنعتي بورژوازې اوبل یې کارګرکوم چې په صنعت کې په کاربوخت وو.

لکه چې پوهیږو لمړی ترهرڅای دغه طبقات په انګستان کې راڅرګند شول پداسې حال کې چه په نوره اروپاکې لادپخوا په څېر هماغه زاړه طبقات په زړوخصوصیاتولاموجوداوفعال وو.په پروس روسیه اورومانیا کې لاتردغه دمه فیوډالي نظام موجود و.فرانسه اومتحده ایالاتو هم ترهغو بهتري نه درلوده،په امریکا متحده ایالاتو کې د۱۸۲۱_۱۸۲۵کلونو کورنېو جګړوپورې مریان هم موجودوو.په ختیځوځمکو کې هم فیوډالي نظام اودهغه پاتې شونې راپاتې وې.

په جنوبي امریکا ،استرلیا اوافریقا کې لمړنۍ اشتراکي ټولنې په خپل حال وي .په فرانسه کې بزګران ترانقلاب وروسته دپانګوالو او ځمکه والو له قید څخه ازاد شول اوپه روسیه کې ډېرى اصلاحات دبزګرانو دفشارونو په پایله کې پلي شول خو لاهم په کلیو اوبانډو کې فیوډالي پاتې شونو مقاومت کاوه.

لدې سره سره اروپاپه تولیدي لحاظه پرمخ روانه وه اودصنعتي کیدوپرلورېې چټک ګامونه پورته کول.

**دمستعمروفتح کول**:پرمختللوهیوادونو چې دخپلو تولیداتو دخرڅلاو لپاره یې نویوبازارونو ته اړتیا درلوده دنویو جنګي کښتۍ ګانو اوعسکرو په مرسته یې دنویو مستعمروپه پیداکولو پیل وکړ.په ځانګړې ډول هغوى اسیااوافریقا ته مخه کړه چې نیول شوي سیمې به یې له وګړو سره یوځاى لوټولې،ددوى دغه عمل دخلکو مقاومت راپاروه اودهغوى پروړاندې یې په بغاوتونو پیل وکړ چې ښې بیلګې یې دهند لوى پاڅون اوپه چین کې دتاییپینګانو شورش دى چې مونږ په پدغومستعمروکې دخلکو مبارزې اودیرغلګرواواستعماري طاقتونو کړنې ټولې په راتلونکوفصلونو کې ترمطالعې اوڅیړنې لاندې ونیسو ،چه په هغوکې به داسې سترسترهیوادونه لکه :هند ،چین، اندونیزیا ،عثماني خلافت،جاپان اونورمسایل شامل دي.

## اندونیزیا دنویو پیړیو له پیل څخه تر۱۸۷۰ م پورې

داندونیزیا اوسني وګړي ددغه ځاى اصلي اوسیدونکي ندي،بلکې دادهغو خلکو اولاده ده کوم چې نژدې ۴۰۰۰ کاله دمخه دچین له جنوب لویدیځې

سیمې څخه دلته راغلي ،په همدې اوږده موده کې هندیانو هم دغو ځمکو ته دسروزرو اوقلعې دموندلو په موخه سفرونه وکړل اوهملته میشته شول چې په اومه اواتمه میلادي پیړیو کې یې هندویې اوبودایې مذهبونو هم اندونیزیا ته ولیږدول اوهلته یې خپور کړ. همداراز په پنځلسمه میلادي پیړۍ کې اسلام مقدس دین هم دهندي مسلمانو سوداګرو په واسطه داندونیزیا په ډیروټاپوګانوکې خپورشو.

تر۱۴ میلادي پیړۍ پورې داندونیزیا هیواد له کورني اوملي یووالې څخه بې برخې و ترڅو په همدغه پیړۍ کې موجاپاهیت ددغه هیواد ملي یووالې تامین اوخپله امپراطورۍ یې ترکمبودیا ،ملایااوفیلیپین پورې پراخه کړه،خودغه امپراطوري په پای کې دهغو امارتونو د دومداره حملو په نتیجه کې ړنګه شوه کومو چې داسلام مقدس دین منلی وو.دغې حالت ترډېره دوام وکړ.

## اندونیزیا دهالینډیانو دیرغلونو په پیل کې

په ۱۷ میلادي پیړۍ کې اندونیزیا درې میلونه وګړې درلودل.اولوې جزایرې یې ستوماترا ،بورنیو ،جاوا ،لویدیځ ایران اوستولاسي (سلب) دي چې دهیواد ۹۰٪ خاوره همدغه ټاپوګان جوړوي،ددغه هیوادمهم پیداوارعبارت دي له:دالچیني، رابراوتنباکو....

ددې له پاره چې دموجاپاهیت امپراطورۍ له منځه تللې وه نوپه ۱۷ میلادي پیړۍ کې ددغوو ځمکو ترټولو پیاوړی دولت دجاوادولت وو چې دماترام په نامه یادیده البته چې دغه دولت دهغو کوچنیو محلي حکومتونو څخه

جوړشوي وو کوم چې ددولت تررهبرۍ لاندې سره يوځای شوي وو، ياده دې وي چې دغه ځمکې داندونيزيا ترټولو حاصلخيزه اوګڼ ميشته سيمې وې اوددې ترڅنګ دمنځنيو پيړيو دپرمختللي فرهنګ لرونکي هم وي ،دماترام سلطان سوسوهانان نوميده چې داندونيزيا خلک ورته ډېر درناوی لري.

په غربي جاواکې هم په ۱۷ ميلادي پيړۍ کې يوپياوړی دولت دبانتام په نوم راڅرګندشو.دسوماتراپه ټاپواوځينو نوروټاپوګانو کې امارتونه موجود و همدغه مهال پدغو قبيلوي ټولنو کې په تدريجي ډول طبقاتي ټولنه راڅرګنديده.

ددې لپاره چې تردغه مهاله ځينو اروپايې هيوادونو ډېرپرمختګونه کړي و او دنورو ځمکو دنيولو په هڅه کې و نواندونيزيا هم دهغو تر يرغلونولاندې راغله.

## په اندونيزياکې داروپايانومداخلې:

پرتګاليان په ۱۲ ميلادي پيړۍ کې دخپلو بېړيو په مرسته لمړی دمولوک ټاپو اوبياوروسته نوروسيموته ورسيدل.هغوی دښې ادارې په موخه دغه لوی هيواد په څوبرخو وويشه دپرتګاليانودغوکړنو دهالنډيانو پاملرنه هم دغه هيواد ته راوړوله خوهالنډيواځې نه و بلکې نوروارواپايې هيوادونو هم داندونيزيا دلاندې کولو هيله درلوده ،خوهالينډپدغه برخه کې ترنورو وړاندې شو ځکه دغه کاردنومړي هيواد ډېرکمزوری کړی وو، اووضع دهالنډ په ګټه وه ځکه نومړی لدغه حالت څخه په ګټه اخستنې لمړی له محلي اميرانو سره

سوداګریزو تړونونه لاسلیک کړل اوپدې ډول یې ترټولو مخکې جاوا، سوماترااوجاګارتادځان تابع اودخراج ورکولوته اړکړ.

## دهالنډیانوښکیلاکګروسلوک

د۱۷ میلادي پیړۍ په نیمایې کې دهالنډ شرقي هندکمپنۍ جوړه شوه دغې کمپنۍ دنده درلوده،ترڅودخپل استعماري دولت په ملاتړد اندونیزیا مهم صادرات لکه درمل اونورپه خپل انحصار کې وساتي. خبره تردې ورسیده چې دشرقي هنددکمپنۍ له اجازې پرته کښت نه شو کولای اوکه چېرې به یې دغه کاروکړنوټول حاصل به ترې په زور اخستل کیده.

هالنډي کمپنۍ له هغو امیرانو سره مرستې کولې کومې چه دخپل جګړو په حال کې وو اوپدې وسیله یې دکمپنۍ واک پیاوړی کاوه، کله چې دوی ځانونه ښه پیاوړي کړل وروسته ترهغې یې پدغه هیواد کې په ظلم اواستبداد اوپیل وکړ چې حتی ځینې وګړې مجبوروو ترڅو د هالنډیانو دظلمونوله لاسه خپلې سیمې پرېږدي اوتښتي،همدغه مهال دوی په سوداګري پیل وکړ اواروپاته یې دصادراتو له لارې ډېرې پانګې راټولې کړلې دوی داتلسمې پیړۍ ترنیمایې پورې ټول هیواد لاندې کړ.

په پیل کې دهالنډ دشرقي کمپنۍ هغواروپائیانو ته چې په اندونیزیاکې وو څه نه ویل خو وروسته یې خپله رویه بدله کړه.

هالینډیانو په اندونیزیا کې په کرهنه پیل وکړ اودقهوې کرل یې پیل کړل ،ددې ترڅنګ دغه هیواد په اندونیزیا کې دځایې وګړو څخه دپوځ په جوړولو هم لاس پورې کړ ترڅو ددغه پوځ په مرسته داندونیزیا بغاوتونه وټکوي.

هالینډ داندونیزیا ددرملوانحصارپه واک کې درلوداودهغو کښت یې هم پخپله کاوه اوبل چاته دهغودکښت اجازه نه وه چې دغه کارخلک له لوږې اوفقرسره لاس اوګریوان کړل،په پیل کې دشرقي هنددکمپنۍ واک ډېرپیاوړی وو خووروسته کمزوری شوچې هغه هم ځانته عوامل لري.

## دهالینډ پروړاندې داندونیزیا دخلکومبارزه:

دهالینډیانو دحملو ،دشرقي هنددکمپنۍ له لورې ددواګانو انحصاراو دلوړمالیووضع کولودخلکو نارضایتي لاپسې ډېرولې اودهغوی کرکه اونفرت راپاریده چې داټول په پای کې دهالنډیانو پروړاندې په یو غورځنګ بدل شو ،سره له دې چې مرکزي حکومت هم مجبورکړای شو چې هالینډیانوته خراج ورکړي.

په هرصورت په پیل کې دغه بغاوتونه دومره منظم نه وه خوپه پای کې دشوبالات نومې مویې مشري لاندې یوقوي پاڅون پیل شو ،هغه وکولای شو چې نورغلامان ترخپلې مشري لاندې راټول اودهالینډیانو پروړاندې مقاومت وکړي ،له یولورې کورنیو پاڅونونواوله بل لورې دهالینډیانو پروړاندې دانګلیسانو سیالۍ هم پیل شوې. په ۱۸۴۰-۱۸۵۰م کلونو پورې انګلیسي قوتونه اندونیزیاته ورسیدل اودصباح ،بروني اوساراواک ټاپوګان یې ونیول.

خوتردې لاوړاندې دشرقي هندکمپنۍ داندونیزیانودمقاومت او انګلیسانودرقابت په پایله کې کمزوري شوي و ،ځکه کمپنۍ ونشو کړای له لویوځمکه والوڅخه مالیې راغونډې کړي.مګرهمدغه مهال انګلیسانو دهالینډیانومرسته وکړه ترڅودکمپنۍ حالت ښه شي،کمپنۍ هم په ۱۸۲۴ م کال خپل ځواک بیاپیاوړی کړ. ددغومرستوپه بدل کې انګیسانو په اندونیزیا کې سوداګریزامتیازات ترلاسه کړل ،دانګریزانو ترمرستوهالینډیانویوځل بیاپخپلوپښو ودریدل اوبریالي شول ترڅودمبارزینوپروړاندې په کلکه ودریږي.

په انګلیسانوپسې جاپاني اوامریکايې سوداګرهم اندونیزیاته ورسیدل اوددغه هیوادربړ،قلعي،تیلواونوروطبعي زیرموپه رایستلویې پیل وکړ.

پدې توګه داندونیزیادخلکومقاومت مات اودغه هیواددرینمې پیړۍ دهالینډ ترواکمنۍ لاندې تېرکړل.پدغه دوران کې بهرنیانواوپه ځانګړې ډول هالینډیانوداندونیزیا دپراخه اوشتمن هیوادډېرې شتمنۍ لوټ کړې اوپرځایې یې وګړو یې ډېرظلمونه وکړل.

# دریم فصل

# هندوستان

**مساحت:** (۳۲۸۷۵۹۰) $Km^2$

دنړۍ ۷ لوی هېواد دی.

**نفوس:** په ۱۹۹۸ میلادي کال کې یې نفوس **۹۸۴۰۰۳۲۸۷** وو.

**اداري ويش**: **۲۵** ایالتونه او۷ اتحادي سیمې

**ښارونه**: کلکته ،مومبي یا پخوانی بمبي، مدراس، بنګلور، حیدراباد ،احمداباد ،کانپور،ناکپور،لکنهو ،جیپور اوداسې نور

په هند کې سلګونه قومونه میشت دي چې مشهوریې **۱۵** دي : کشمیري،راجستاني،پنجابي،هندي،بیهاري،بنګالي، اسامي، اریایې، مرته ،تلوګو،تامیلي،مالایا ، اوکاناري دي.

**ژبه** : **۸۴۵** ژبې لري چې لدې جملې **څخه** یې د**۷۲۰** ژبوویونکې له ۱۰۰۰۰۰ لږدي.

د**۳۰**٪ وګړوژبه یې هندي چې همدا ژبه یې مورنۍ اولمړنۍ ژبه ده.

انګلیسي یې داداري چارو ،اقتصاداوسیاست ژبه ده .

اساسي قانون دمطبوعاتو ،اداراتواوښوونځیولپاره **۱۵** ژبې په رسمیت پیژني.

مذهب یې هندو اوتقریبا **۸۰**٪ **خلک** یې دهندومذهب پیروان دي.

رژیم: غیرمذهبي ،دموکرات اوفدرالي جمهوریت

ولسي جرګه یې دلوګ سبا اومشرانوجرګه یې دراجاسبا په نوم یادیږي.

**سیاسي ډلې**:بهارینا جانتاپارتي ،کانګرس ،جانتادال پارتي ،دهندکمونست ګوند ،ټول ګوندونه ۲۲ دي.

**صنعت**:ټوکران،خوراکي مواد ،اوسپنه،فولاد ،سمنټ،زراعتي ماشینونه، کاغذ، شیشه،کیمیاوي مواد ،موټران، الوتکې، وسلې،اورګاډی، دکانونو استخراج اودهغه ماشینری،پتروشیمي تولیدات،دبریښنا سامان،کیبلونه، ساختماني ماشینونه، اټمي منابع ، چرم، لاسي صناعت، اوپه سلګونو نور....

**کرنیز تولیدات**: وریجې ،غنم،تیل لرونکې ونې،پنبه، کنف، چای، وربشې، ګني، طبي بوټي،غوښه،لبنیات اوهګۍ

**څاروي**: غوا اوغواګانې،وزې،میښې،پسونه،خوګان،

**نړیوالې لانجې**: چین،بنګلدیش سره سرحدې لانجې لري ، له پاکستان سره دکشمیرپرسر ، دپاکستان اوهند داوبوویش مسئله هم یوه لانجه ده.

**تاریخ**: د۱۱۹۱ میلادي کال دغوري پاچا له لورې هندي واکمن پریتوي راج مات شو اوپدې توګه داروپائانو ترعروج پورې په شمال اوټول مرکزي هند کې دمسلمانانو واکمني ټینګه شوه. وروسته بیا قطب الدین (۱۲۰۲_۱۲۱۵) پورې نورې سیمې ونیولې .اوسلطان التیمش دغه واکمني نوره هم پیاوړې کړه (۱۲۳۵).

وروسته اړودوړ پیل شو اوبیا سلطان جلال الدین غلجي دهند دغلجیانو سلسله پیل کړه نوموړي دخپل زوم اووراره سلطان علاوالدین له لوري ووژل شو ،اوپخپله واکمن شو چې دهمدې واکمنۍ پرمهال تقریبا ټول هند فتحه شو ،وروسته لړۍ راغله.اوپه ۱۵۱۴ م کال کې له منځه ولاړه. اوپه هند کې دمسلمانانواوهندوانو جلاجلا واکمنۍ رامنځ ته شوې.

په ۱۴۹۸ والکو روګاماپرتګالی دهنددګالیکوټ بندرته ورسید اوهلته یې له اروپا سره دسوداګرۍ بنسټ کېښود.

دوه کاله وروسته بل پرتګالي الوارز کابرال دهند په کوچني کې ځای پرځای شو .په ۱۵۰۳ کې البوکرک دلته یوه مهمه اړه جوړه کړه. پدې توګه پرتګالیان د هند په جنوبي سمندري پولو کې ځای پرځای شول.دوی په ۱۲ پیړۍ کې په هند کې پیاوړي اروپیان بلل کیدل.

ظهیرالدین محمدبابرشاه په ۱۵۲۲ میلادي دهنددمغولانو سلسله جوړه کړه ،دهمدغې سلسلې دواکمنۍ پرمهال وو چې نورواروپایانودهند هېواد ته مخه کړه

## هندوستان دنویو پیړیو له پیل څخه تر۱۸۷۰ م پورې

## د۱۲۴۰ څخه وړاندې دهند حالات:

په ۱۱۹۱ میلادي کال دغوري پاچاله لورې هندي واکمن پریتوي راج مات شواوپدې ډول هندته داروپائیانو ترراتګ پورې پدغه ملک په شمال اومرکزي برخو دمسلمانانوواکمني ټینګه وه ،وروسته بیا قطب الدین د۱۲۱۵-۱۲۰۲ کلونوترمنځ یوشمیرنورې سیمې هم ونیولې اوپه راوروستوکلونوکې سلطان التیمش دغه واکمني نورهم پراخه کړه. (۱۲۳۵) تردې وروسته اړودوړپیل شو ترڅوپه ۱۲۹۰ کال سلطان جلال الدین غلجي دهنددغلجیانودلړۍ بنسټ کېښنود ،خوهغه هم دخپل وراره چې زوم یې هم وه له لورې ووژل شو ،سلطان علاوالدین یوباکفایته شخص وه چې دهمده دواکمنۍ پرمهال نژدې ټول هندفتحه شو.

وروسته دتغلیقیه لړۍ رامنځ ته شوه چې تر۱۵۱۴ م کال پورې یې دوام وکړ ،په ۱۵۲۲ میلادي کال ظهیرالدین محمدبابرشاه دهندد مغولانوسلسله جوړه کړه ،دهمدغې لړۍ دواکمنۍ پرمهال وو چې داروپائیانو پاملرنه هندوستان ته ډېره شوه.

دغه هیوااددنړۍ له لوي هیوادونو څخه دي چې دنفوسو له پلوه هم په نړیوال ډګرکې دوهم ځای لري،دهندډېری وګړي په کرنه بوخت وو چې په اشتراکي ډول به یې په هغوکې کارکاوه اودخپلومحصولاتونیمایې برخه به یې دولت ورکوله،ددې ترڅنګ اهنګري اونجاري هم په مهمو بوخت تیاوې کې شمیرل کیدلې.هندد ډېرومانوفاکتورونولرونکی هېواد وو چې ډول ډول ټوکران پکې اوبدل کېدل چې نړیوال شهرت یې درلوداواروپایې هېوادونوته هم صادریدلې.

ډهلی په ۱۲ میلادي پیړۍ کې دنړۍ دلویو اوښکلوښارونو له ډلې شمېرل کیده،دهیواد وګړي په څوطبقو ویشل کیدل لکه روحانیون ،بزګران ،پوځیان اودټولني کښتنۍ طبقه ،چې وروستي یې له ډېرو حقوقو څخه بې برخې وه حتی چې روحانیونو هم له هغوی سره سم چلندنه درولود ،دغه مهال نژدې دټول هند واکمني دجلال الدین اکبرپه لاس کې و چې خلک یې دډېرولوړو مالیوورکولو ته مجبورول چې په پایله کې کورنۍ جګړې وې اوډېره ګټه یې انګریزانو ته ورسیده چې دډېروخت لپاره یې پردغه لوی اوشتمن هېواد واکمنۍ وکړه.

## په هندکې داروپائیانونفوذ

**پرتګالیان:** لمړني اروپائیانو چې هندته ورغلل پرتګالیان وو په **۱۴۹۸** کال پرتګالي واسکودوګاما دهنددکالیکوټ بندته ورسید اوهلته یې له اروپا سره دسوداګرۍ بنسټ کېښودترنومړي وروسته په **۱۵۰۰** میلادي کال یوبل پرتګالي الوارزکابرال دهندپه کوچین نومې ځای کې ځای پرځای شو اوروپسې په **۱۵۰۳** میلادي کال البوکرک په کوچین کې یوه مهمه اډه جوړه کړه.

داهغه مهال دی چې جلال الدین دهندواکمن و ،کله چې واسکودوګاما دپرتګال حکومت ته خپل راپورورکړ نوپرتګال هم خپل عسکرهندته واستول دوی له جلال الدین اکبرسر خبرې اترې پیل کړې چه دهغو په جریان کې دغه هندي واکمن دعیسوي دین شو ،ډېره مینه پیداکړه ،پرتګالیانوهم هغه ته مذهبي روحانیون ورولیږل ترڅوورسره دعیسوي دین په هکله پراخ مذاکرات وکړي ،پدې ډول دپرتګالیانواوجلال الدین اکبرترمنځ ډېرې ښې اړیکې جوړې شوې

اوترڅو چې هغه ژوندی وو ، پرتګالیانو په هند کې پریکنده عمل ونکړ خو کله چې هغه مړشو یعنې دشاه جهان دواکمنۍ پرمهال دوی هڅه وکړن ترڅو ځینې برخې ونیسي خوشاه جهان دواکمنۍ پرمهال دوی هڅه دهند ځنې برخې ونیسي خو شاه جهان ورته ماتې ورکړه اوپرځای یې کښینول، ترپرتګالیانو وروسته هند دفرانسویانو حملولاندې راغی اوله نورو سره یې سیالۍ پیل کړې.

**فرانسویان:** دوی په کال **۱۵۴۲** کې هند ته ورغلل اودانګریزانو ډېر پیاوړي سیالان ګڼل کیدل، په **۱۴۴۹** کال کې دفرانسوي سیاست پونه کولمبرپه نوښت دفرانسې دشرقي هند کمپنۍ جوړه شوه چې دولت له لورې یې ملاتړ کېده خوفرانسویانونظرهند ته دمدغاسکارهیواد ډېر خوښاوه خوبیاهم هغوی هیله درلوده چې په هند کې خپلې اډې ولري ،دوی په **۱۵۷۲** م کال دبنګال حاکم نواب ښایسته خان یوه ټوټه ځمکه فرانسویانو ته وبښله چې هغوی پکې دچندرانګوفابریکه جوړه کړه اوپه دې توګه نورهم پیاوړي شول په **۱۷۴۲** کال دوبلکس دهندکارونو ته ورګډ شو اودفرانسویانوکارونه لاپسې ښه شول، دوبلکس یولوی سیاست پوه وو،چې سوداګري یې دسیاست تراغیزلاندې راوستله اودلمړي ځل لپاره یې په هندوستان کښې دفرانسوي امپراطورۍ دجوړیدوفکروکړ خودنوموړي دغې مفکورې ډېر دوام ونکړ، انګلیسانودده لدغې مفکورې ګټه واخیسته اوددوبلکس اوانګلیسانو ترمنځ کشمکش پیل شو.

## دانګلیسانو اوفرانسویانو سیالۍ اودځمکونیول:

دمغلودامپراطورۍ دزوال نه دمخه داروپايي سوداګروزیاتیدونکي نفوذ په کورنېو پېښو اغېزغورځولې وه ،اروپايي سوداګري شرکتونه په ناپاراوکروماندل کې کلکې سوداګريزې اډې جوړې کړې وې ،انګریزان همدغه مهال وپوهیدل چې په اندونیزیاکې یې کوم مهم کارله لاسه پوره ندي نوځکه هنداومنځني ختیځ ته متوجې شول. دفرانسې دشرقې هنددکمپنۍ اصلي اډه دمدراس په جنوب پوندبحري کښې وه اودانګریزانو اصلي تجارتي پایګا په مدراس کې جوړه شوې وه ،

د۱۸ پیړۍ کې مرکزي واکمني کمزوري وه دځواکمنواشرافوترمنځ دځان غوښتنې اوسیالۍ تمایلات زیات ول چې اروپايي شرکتونه له هغو څخه ډېره ګټه پورته کړه اودهندي ځمکوپه نیولو پیل وکړ. دځمکوپدغه لاندې کولوکې اصلي سیالان دانګلیس اوفرانسې سوداګریز شرکتونه وو،په پیل کې فرانسویانویولړبریالیتوبونه ترلاسه کړل ،فرانسوي کارپوه اودفرانسې استازې لمړني څوک وه چې له هالینډي تکتیک څخه په ګټې اخستنې سره یې له بومي اوسیدونکو څخه یوپوځ جوړکړ چې پلمه یې هم ددغه کارله پاره له هغه اشرافوڅخه دفاع اوملاتړو،کوم چې دجګړې په حال کښې وو،خو وروسته یې وکولای شول ترڅو دهندپه مختلفوسیمو کې خپل پوځونه ځای پرځای کړي.

دبنګال لوټول: په بنګال کې دهغه ځای حاکم سراج الدوله دانګریزانو پروړاندې ډېرکلک مقاومت وکړ. خوکلایوانګریزدسراج الدوله دپوځ له یو ډېر مهم قوماندان چې میرجغفرنومیده،سره یوپټ تړون لاسلیک کړ،پدغه تړون کې لیکل شوې وو. چې میرجغفرته به دمرستې په بدل کې دبنګال سلطنت ورکړل شي

، نوهماغه وو چې دپلاسي په جګړه کې دنواب نوي زره کسيزپوځ ماتې وخوړه، دميرجغفرخيانت دنواب دخپلواکۍ غورځنګ ته ډېر کلک ګوزار وو ،ځکه هغه دانګريزانو له لورې ونيول شو اواعدام کړای شو،دبنګال د نيولوله مدرکه دشرقي هندکمپنۍ ته۳۲ ميلونه پونډه ګټه په لاس ورغله چې له دغو پيسو څخه يې۲۱ ميلونه دکلايواودکمپنۍ دافسرانو اومامورينو جيبونوته ورغلې اوپه دې ډول خاين ميرجغفرهم واک ته ورسيدل ،ډېرى نوابان دشرقي هند دکمپنۍ تر واک لاندې راغلل اومجبوروو چې دانګريزانو امرونه ومني اوکه به يې دشرکت دغوښتنو سره سم کارونکړ نودنوابۍ څخه ګوښه کيدو اوخبره تردې ځايه ورسيده چې که هرچاغوښتل نواب شي بايدپه کروړونوروپۍ يې شرکت ته ورکړې واى.

## په هند کې دانګريزانو دحکومت جوړيدل

انګريزانو دشرقي هندد کمپنۍ ترجوړيدلو وروسته ډېر برياليتوبونه ترلاسه کړل. په هند کې دانګليس ددولت دپرمختګ اوپرمختيا اصلي علت دفرانسوي دوپلکس له اصولوڅخه استفاده وه يعنې دشهزادګانو په خپلمنځي مشاجروکې مداخله ،دځای وګړو ګمارل تفرقه اچول اوحکومت کول. دهند دنيولو جګړه په ۱۷۵۷ م کال پيل اوتر۲۰ زيات کلونه يېدوام وکړ، دشرقي هند کمپنۍ درازراز روشونو څخه په ګټې اخستنې سره دهند خلک توهين اوحقير کول. هنديانيې په ډېرو حقيرو دولتي دندو ګمارل پداسې حال کې چې

انګلیستان له ډېرو امتیازاتو څخه برخمن وو او په حساسو پوستونو کې به ګمارل کېدل، وروسته تر هغې چې انګلیسانو پر فرانسویانو بریالي شول نو د ټول هند د نیولو تکل یې وکړ او د غه کار یې له بنګال څخه پیل کړ چې د وخت څخه په تیریدو سره د ټول هند واکمنان شول. په بنګال کې له ۱۷۴۰ م څخه تر ۱۷۵۶ م پورې علي وردي واکمن وو ، چې له ځانه یې ډېره مېړانه او لیاقت وښود کله چې نوموړی په ۱۷۵۶ م کال مړ او پر ځای یې سراج الدوله کیناست.

دغه شخص لکه څنګه چې پوهیږو له انګریزانو سره ښې اړیکې نه درلودلې علت یې دا وو چې انګریزانو د سراج الدوله له اجازې پرته د استحکاماتو په جوړولو لاس پورې کړ مسلمانانو د کلایو تر راتګ د مخه په کلکته کې د شرقي هند په کمپنۍ حمله وکړه او د هغوی سنګرونه یې وران کړل.

انګلیسان هم په قهر شول او یو ځل بیا یې پد غه ځای حمله وکړه ادمرکلي مشهوره کلایېونیوله ترڅو چې د علي نیکرتړون لاسلیک شو او جګړه پای ته ورسیده د تړون مواد په لاندې ډول وو :

۱. سراج الدوله باید د انګیسانو ټول هغه څه چې پد وی پورې اړه لري بیرته ورته ورکړي.

۲. اجازه دې ورکړل شي چې د انګلیس سوداګریزتو کې د هندوستان لد غه ولایت څخه پرته له ګمرکي محصول څخه تیرشي او په بدل کې به د نواب د ښمن د وی خپل د ښمن ګڼي او د اړتیا پرمهال به ورسره مرسته کوي ، رابرت کلایو چې یو لوی سیاستوال وو ، پد غه ماموریت کې بریالي شول او د سراج الدوله د له منځه

وړلو نقشه يېجوړه کړه ،دپلاسي په جګړه کې چې په ۱۷۵۷ م کال دکلکتې اوخورشید ابادترمنځ پېښه شوه ،سراج الدوله ماتې وخوړه اوپه شاه شو ،سره ددې چې دغه جګړه دومره لويه نه وه ،خوبیاهم ټاکوونکې وه اودهند راتلونکی يې وټاکله، دجواهرلعل نهروپه وینا پرهندباندې دبرتانیا واکمنی دپلاسې له جګړې څخه پیل شوه ،سره ددې چې انګریزان په بنګال کې بریالي شول خوبیا هم ددغه هېواد په غربي سیموکې له ستونزو سره مخ وو.

دمرهټه خلکودانګریزانوپروړاندې نوی لښکرجوړ کړ اویوڅه موده يې دهغوی پروړاندې جګړې وکړې خودمالي حالاتو دخرابوالي له امله دغه پوځ هم له منځه ولاړه چې په پایله کې يېجنوبي اومرکزي هند دانګریز ضمیمه شو.

لنډه داچې د ۱۸ پیړۍ په پای اود ۱۹پیړۍ ترپیل پورې دانګریزانوواکمني په دغه هېواد کې ډېره پیاوړې شوه، په هند کې دانګلیس دنفوذ ترپراختیاوروسته له افغانانوسره لاډېرټکرونه پیل شول، ددغو بریالیتوبونو علت دښو وسلو ،ښه نظم اوترټولو مهمه دښه سمندري ځواک لرل وو.

که انګریزانوبه ماتې وخوړه خوله منځه نه تلل ځکه نه یواځې داچې هغوی ښه جنګیالي وو ،بلکې نظرخپلو سیالانوته ډېرزیرک اوهوښیارهم وو.دوی کولای شول دخپلوسیالانوله خپلمنځي اختلافاتوڅخه ګټه پورته کړي چې په دې توګه دوی پیاوړي کېدل اوسیالان يې کمزوري کېدل اویاهم له منځه تلل. چې کمزوروشویو راجاګانواوځمکه والو به بیاله انګریزانوسره مرستې پیل کولې.

# تروا کمن کېدوروسته بیاتر۱۹۱۴م کال پورې په هندکې دانګلیسانوروش

په هند کې دانګیسانودکړنو په اړوند دشرقي اوغربي پوهانو له لورې په ۱۹ــ۲۰ پیړیو کې ډېرې لیکنې شویدي. ممکن ددغو یوه برخه دښه نیت یابدنیت له مخې وي خویو عمده برخه یېپرواقعیتونو ولاړه ده اوتریوې اندازې دلیکوال دبې بري قضاوت ثرګندونه کوي.

لدغه لېکنوڅخه یوهم د((فظایع الدول الاستعمارفی الشرق انګلسترافی فی الرهند ))

پدغه کتاب کې دانګیسانودکړنو اودهنددخلکوپه هکله لیکنې شویدي .لکه دکلایو چې پخپله یېله هندڅخه درې میلونه پونډه بډې واخستې اوپه لندن کې یې دشرقي هند دکمپنۍ دمشرتابه په عنوان په یو مکتوب کې راشي ،ولیکل.((ستاسې مامورین دانګلستان دپاچادتوري په زور دبډوله مدرکه ژوندکوي څوک چې لس پونډه معاش لري زرپونډه یې مصرف دش، که چیرې بډې اخستل بسنه ونکړي نودخلکودشتمتنیوپه لوټولوپیل کوي. دغه کاردانګلیس په ټولوادارو کې رواج لري.

لاردوارن هاسټینګنز چې په هندکې دانګریزانوترټولوبې رحم حکمران وو.پخپله دانګلستان دمجلس ریس ته په خپل مکتوب کې داسې ولیکل:(په هندکې ډېرظلم دانګلیسانوپه مرسته کیږي .ماپخپله ولیدلچې دانګلسانود

قواو لمړیو لیکودخلکوشتمني چوراودښځوپرعزت یې تیری وکړ، په همدې خاطرهرکله چې یولورته دانګریزانودسفرخبرخپورشي نودسلګونو کلیواو باندوخلک یوځای فرارکوي اودغه ځایونه له اوسیدونکوخالي کیږي . ددغه انګلیس نظریه وه چې دبنګال دحکومت دنواب یولوړپوړي چارواکي چې امیرکبیرنومیده یواځې پدې ګناه چې یوڅه مالګه اوباروت یې پیرلې وه، سره ددې چې دانګلیس په انحصارکې هم نه وو په ځنځیرونوتړل شوي،کلکتې ته راوړل شو. دمجلس غړودهغه دغوږاوپزې دپرې کولوتقاضاوکړه اوورته سزاورکړل شوه.

مالي دومره لوړې شوې چې بزګرانوله زراعت څخه لاس واخیست اوپه هند کې لویه قحطي راغله چې په پایله کې یېپه میلونونوانسانان مړه شول. دغه مهال دنوکانوایستل،دغوږونوغوڅول ،وهل اوټکول بې اندازې ډېررواج وو.

دهندعاموګړو چې دغه حالت لیده نوپه ډېرو سختوشرایطو به یې قرضیې اخستې ترڅومالیې اودلویوځمکه والواجارې ورکړې ،یو انګلیس چارواکې چې په هند کې په ۴۵ جرمونوتورن وو اومسترپټرسن نومیده دمحکمې له لورې بری زمه وګڼل شو ، همدارنګه تردې وړاندې نورکلایو هم په هندکې له ټولوجرمونوڅخه برایت واخیست. انګلیسانوپه خپلو دغوکړنو سره غوښتل دهنددخلکوعزت اوشرف ترپښنو لاندې کړي.

انګیسانوډېرمصارف کول ترڅوپه نړۍ کې دهندیانو شخصیت اوکرامت ته سپکاوی وکړي ،دوی غوښتل نړیوال پدې قانع کړي چې هند دملي خپلواکۍ او اذادۍ حق نه لري. پداسې حال کې چې تاریخ دهنددخلکو اتلوالیواواخلاقو

کيسې ليکلې. انګريزانو داسې اقتصادي اوسياسي شرايط برابرول چې خلک ددغه اشغالګرو دښمن پروړاندې مبارزه ونه پيژني. هغويو شميرخلک په پيسو ،مډالونواونوروامتيازاتو روږدي کول ځکه دوی غوښتل ترڅوددغه هېواد دوهم نسل يوفرمايشي نسل وروزي خو انګيسانوپدغه کارکې يواځې نه ول ،محلي واکمنان ،لوی ځمکه وال اوبومې پانګوال يېښه مرستندويان وو. دوی پدې نه پوهيدل چې دتل لپاره ديوملت دتکامل مخه ډپ کول امکان نلري.اوپه هره وسيله چې وي هغه دارتفاپرلورخپله لاره خلاصوي. بياهم انګليسانوپدغه هېوادکې خپلومنفي کړنوته دوام ورکړ.خلک دومره بې وزله شول چې حتی دخوراک لپاره يې څه نه شول پيداکولې. دبيلګې په ډول په زرګونوخلک به په اخترونو اوودونوکې ديوې مړۍ ډوډۍ دخوراک لپاره ډېرولروپرتوسيموته تلل، که چيرې به ناوخته ورسيدل اويابه څه په لاس ورنه غلل نوله ډېرې نااميدۍ سره به بېرته خپلوکورونوته ستنيدل حتی د لارې په اوږودوکې به يېاولادونه اوماشومان له لوږې ،تندې اومريضۍ څخه مړه کېدل. ډاکتراسپري په خپل مشهورکتاب(مډرن انډيا ) کې ليکلی.

په ١٩ پيړۍ کې به دهنددګورنرجنرال په امرانګليسي عسکروچه کوم کلی په زورونيوو ،نوهغه ته به يېاوروړاچاوه اودهغه ځای نارينه وګړي به يې اعدامول ،هغه وړاندې ليکي ماپخپله وليدل چې خلکو داونوپاڼې شکولې اوهغه به يې خوړلې اوښځوبه خپلې لورګانې په ډېره ارزانه بيه خرڅولې ترڅو پرې ځانته خواړه رانيسي چې همدغه مهال ماهم يوه اوه کلنه نجلۍ په اويارروپۍ واخيسته.په داسې حال کې ده چې دهندوستان سترهېواد دډېروحاصلخيزه

ځمکو او طبعي زیرمو لرونکې دي ،چې دهغو له محصولاتو څخه په لندن کې ډېرې لویې لویې ماڼۍ ګانې جوړې شویدي.

ویل دورانت په خپل مشهورکتاب ((اختناق هندوستان)) کې داسې لیکي: تر۱۹۰۷م کال پورې دټول هندوستان دمعارف بودیجه دوه میلونه ډالره وه ،پداسې حال کې چې عسکري بودیجه ۴۳ میلونه ډالره وه.

انګلسانوکوښښ کاوه ترڅودغه هېواد دخپل صنعت لپاره داوموموادودتهیه کوونکي په توګه وساتي، دهندپه فابریکوکې نژدې دوه میلونه ښځواوماشومانوکارکاوه ،ددې لپاره چې دکارساعتونه ډېروو ،هندي ښځوبه خپل ماشومان دتریاکوپه واسطه ویده کول،دتاریاکوکښت انګیسانوکاوه . په هندکې مشروبات هم ډېروو. ډېرې هټۍ ګانې به دتاریاکودپلورولو لپاره پرانیستې وې ځکه انګریزانودخلکودروږدې کولوهڅې کولې ،ځکه دوی غوښتل ترڅو دټول هند دکارونو په راس کې پخپله ځای ولري، اوهندیان ددوی ترلاس لاندې کار وکړي ،ولو که دغه هندیان هرڅومره لایقه هم وي. ناروغیو په میلونونو هندیان دمرګ کندې ته ورټېل وهل ، یواځې له ۱۸۷۸م کال څخه تر۱۹۰۰م کال پورې پدغه هېواد کې پنځلس میلونه خلک له لوږې څخه مړه شول .هندي صنایع له مینځه لاړې اوهندیان دومره شکنجه شول چې هیڅ مسکایې په شونډو ،نه لیدل کیده.

# څلورم فصل

## چین

چین د منځنۍ اسیا یوه پراخه برخه نیولې ده ، دغه هېواد خاورې او نفوسو له درکه داروپا له ټولې وچې څخه غټ هېواد دی. هغه وخت چې د دغه هېواد په شمال ختیځ کې د دوسولې په سیمه باندې لمردنګ ولاړ وي په لویدیځ کې د پامیرپه څوکو لاشپه وي . کله چې په شمال کې واوره پرته وي دهاي نان په ټاپو کې پسرلنی کښت پیل شوی وي.

ددغه هېواد پلازمینه بیجنګ یا پیکینګ دی اونن ورځ دنفوس له پلوه دنړۍ لمړی هېواد دی تقریبا (۱۲۳۲۹۱۴۲۵۸) نفوس ۲۲ ولایتونه ، **۵** خودمختاره سیمې او څلور ښاروالۍ سیمې لري.

تایوان چې نن ورځ دیوخپلواک هېواد په توګه راڅرګند شوی دی ،مخکې دچین برخه وه.اودانقلاب په کلونو کې لدغه هېواد څخه جلا شو خوچین اوس هم د تایوان جمهوریت دخپل هېواد دیوولایت په توګه ځان بولي. همداراز دهانګ کانګ ټاپوچې ۹۹ کاله دانګلستان له لورې اداره کېده،په ۱۹۹۷ م کال بیرته چین ته وسپارل شو اودسکاوټاپو چې دپرتګال له لورې اداره کیده هم دغه هېواد ته وسپارل شو، چین له هند ،جنوبي کوریا،ویتنام ،روسیې ،تاجکستان اونوروسره اوس هم سرحدي لانجې لري.

نژدې ۲۲ میلونه چینائیان لدغه هېوادڅخه بهرپه ټایلنډ،مالیزیا،اندونیزیا، ویتنام، لاوس،سنګاپور،برما،فیلیپین ،هاوایې، کوریااوهندکې هستوګنه لري ،چې درایې ورکولو له حق څخه برخمن دي.

دچین اوسني مشهورښارونه دادي: شانګهای ،تنجن، شن یانګ ،جنګ زو، کانتون،اوتا ،نان کیننګ،تان یوان اویوشمېر نور.....

مهم بندرونه هم پدغه هېواد کې ډېر دي لکه :کانتون ،شانګهای ،تین تسین ،اموي کیونګ شان ،تسنګ تایو، فوزهو ،کنګ زو،هایکو،نان تونګ،ین تای، شان تو اونوردي.

ددغه هېواد۹۱،۹٪ وګړي دهان له ملیت څخه دي اوپاتې ۸،۱٪ یې دپنځوسو بېلابیلو ملتونو څخه متشکل دی.

دچین ترټولو غټه اورسمي ژبه چیني یاماندرین ده ، مذهب یې کنفیسیوس بودایې ،اسلام اومسیحیت دی، دحکومت طرز یې اوس ولسي

جمهوریت دی ،جمهور رئس یې دمحلي کانګرس له لورې دپنځوکلونولپاره ټاکل کیږي. ددغه هېواد نوی اساسي قانون د۱۹۸۲ میلادي کال ددسمبرپه ۴ نېټه اعلان شو ،پارلمان یې یومجلس لري ،چې ورته ملي کانګرس ویل کیږي اوولایتي کانګرسونو له لورې د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي.

په سیاسي ډلوکې دچین کمونست ګوند ترټول غټ ګوند دی خودده تر څنګ اته نورې کوچنۍ سیاسي ډلې هم پدغه هېواد کې فعالې دي. چین په ۱۹۷۱ کال کې دملګروملتونو غړیتوب ترلاسه کړ، تردې وړاندې تایوان یافارموسادټول چین په استازیتوب ددغه سازمان غړیتوب درلود.

دنویو پیړیو په پیل کې دچین ټولنیزحالات

په ۱۷۴۴ کال په چین کې یو لوی خلقي انقلاب رامنځ ته اوپاڅونکوتکي بریالي شو ترڅو پیکینګ ونیسي. وروسته تردې دغو بزګرانو دځینو نجیب زاده ګانو شتمنۍ ضبط کړې ،خوهمدغه مهال دغونجیب زاده ګانو له خپل ملت سره خیانت کولوته لاس واچاوه،اوله منچوریانو سره یې دپیکینګ په نیولو کې مرسته وکړه.

پدغه ډول منچوسپروچین ته لارپیدکړه اوهلته یې انقلاب وټکاوه ،خو دوعدې خلاف کله چې دوی چین ته راننوتل ،لدغه هېواد څخه ونه وتل اوټول واک یې په خپل لاس کې ونیو ،پدې ډول دمنچویاچینګ لړۍ له ۱۷۴۴ م څخه تر۱۹۱۱ م کال پورې پدغه هېواد کې واکمني وکړه، دمنچوریانوراتګ په چین کې دجګړو لړۍ پیل کړه چې تر۱۷۸۳ کال پورې یې دوام وکړ،همدغه مهال یوشمېر

چینایې وګړو ددغو پردیوپرورړاندې په مقاومت لاس پورې کړ،خوترټولو پیاوړی پاڅون په ۱۲۴۷ کال کې د یانګ تسه دسیند جنوب اودسین کیانګ په سیموکې رامنځ ته شوچې په هغه کې بزګرانواوغیرچینې ملیتونو ګډون درلود ، دوی دامپراطوردمستبدحکومت پرورړاندې ددې لپاره جنګېدل ترڅو خپله خپلواکي وساتي اودمینګ دلړۍ پروایې نه ساتله، په جنوب شرقي برخو کې هم چینې بزګرانو دتایوان دجزیرې اوساحلي سیمو له وګړو سره په شریکه په جګړې بوخت وو ،پدې توګه ګورو چې سخته جګړه روانه وه خوداشرافو یوځای خیانت اوددغه ډول ،ډول پاڅونونو ترمنځ دیووالې نه شتون منچوریانونه امکان ورکړ ترڅو دچین په ټولو مرکزي اوجنوبي برخوکې واکمن شي.

منچوري فیوډالانو چین ترټولو ښې ځمکې دځانونو لپاره ونېولې اوپردغه هېواد یې درندې مالې ولګولې ،اوس نودچین امپراطور مطلق العنان واکمن وو. هغه ته به یې د(لمرزوی) وایه ،اوددې لپاره چې دلمرپه څېر ښکاره شي نوپرته له ژیړلباس څخه به یې بل ډول جامې نه په تن کولې ، دغه ډول جامې پرته له امپراطور اودهغه دډېرو نژدې خپلوانو څخه بل چا نشوې اغوستلای ، دغه مهال په چین کې ځمکه والي (فیوډالي) نظام حاکم وو. هغوبزګرانو چې خپلې ځمکې یې نه درلودې نومجبوروو ترڅو دلویو ځمکه والو ځمکې په اجاره واخلي. دکاروسایل هم ډېر ابتدایې یانې دبیل اوکلنګ په سطحه وو. دخلکو اقتصادي حالت ډېرخراب وو چې دغه حالت یوروسي سیلاني چې (سبي بانسکی) نومېده په ښه ډول انځور کړ. هغه لیکي: (( دچین وګړي له هرډول حقوقو څخه محروم دي ، ټول په فېوډالانو اوصاحب منصبانوپورې تړلي دي

،بزګران ددولت دمامورینو له لورې په عذاب دي اوشاقه کارونو اوبیګارته مجبوریږي، بزګران ډېری وخت له لوږې مري اوداولادونو پلورل هغوی ته عادي کارګرځېدلی دی ، دچین ښارونه له سوالګرو اوبیوزلو ډک دي))

دمنچور لړۍ پاچاهانو هم دچین په ټولنیزجوړښت کې کوم بدلون رامنځ ته نه کړ، چینایې ځمکه وال یې هم له هیڅ ډول عایداتو اوامتیازونو بې برخې نه کړل.

پدغه دوره کې دخصوصي مالکیت ډېره برخه دمنچوري اشرافو ، پوځي قوماندانانو اومذهبي کاهنانو په واک کې وو . یوشمېر بزګرانو لږې ځمکې درلودې اوډېریې بې ځمکې وو. سرف هم وو چې ددولت ځمکې به یې کرلې چې ددوی عایدات دملي ګارډ لپاره وو.

په کلیو اوباندوکې طبعي صنایع رواج وې اوپه ښارونو کې پانګوالي تولیدي اړیکې په ډېر پټ ډول پرمخ تللې ، دچینګ لړۍ (منچو) په کلېو کې په ژوندانه یوډول کلک انظباط وضع کړی وو. له بل پلوه په ښارونو کې هم دسوداګرو اوصنعت ګرو دفعالیتونو دمحدود ولو لپاره عمده بدلونونه روان وو،چې هغوی خپله خپلواکي له لاسه ورکوله دوی په ټوله کې دمنچوري حکومت مخالفین وو. ځکه ددوی دواکمنۍ پرمهال چیني سوداګرو اوصنعت ګرو خپله سیاسي اواقتصادي خپلواکي تقریبا له لاسه ورکړې وه.

دمعدنونو درایستلو اوپرمختګ مخه نیول کېده ،سره ددې چې دکانګ شي دسلطنت پیاوړې دوره تریوه بریده دلاسي صنایعو اوسوداګرۍ داوبدلو

صنعت اوچیني جوړولو دپرمختګ سبب شو. خوځیني خندونه لکه لوړې مالیې او اجباري کارونه ددې باعث شول چې صنعتي سازمانونه ددولت ددستګاه جزوګرځي اودنده یې هم یو لړ مالي اوپولیسي کارونه وو. دسوداګرۍ حالت لدې هم خراب وو ،برسېره پرلوړو مالیو په بهرنۍ برخه کې له نورو سره سیالۍ هم دسوداګرۍ دپراختیا مخه ډپ کوله ، ډېرې ښارونه په نظامي اواداري مرکزونو اومنچوري اشرافو په هستوګن ځایونو بدل شوي وو.

منچوري واکمنانو هڅه کوله ترڅو منچوریان په یو جلاپوځي اواداري طبقه تبدیل کړي. ترڅو همدوی ،ددوی دواک اصلي تکیه ځای وي اومنچوریان په یوه ممتازه برخه واړوي .داسې چې چینایان هغې ته دورننوتلو حق ونلري نوځکه یې ددواړو ترمنځ داړیکو مخنیوی کاوه.

# دچین اواروپا لمړنۍ اړیکې

دامپریالیستانو ترمنځ داختلاف لوی لامل دچین هېواد وو. داهغه ځمکې وې چې هراروپایې هېواد غوښتل ترڅو هغه ونیسي . دچین پراخه ځمکې دمنچور لړۍترواکمنۍ لاندې وې. دپخوانېو چینایانو دعقیدې له مخې چین پخپله یوه بیله دنیا وه .اروپایئانو دمنځنېو پېړیو په نیمایې کې کله ناکله دغه ځای ته تګ راتګ کاوه خودچین ملت دهغو له کارسره کارنه درلود اوله دوی سره یې داړیکو ساتلو کومه هېله هم نه درلوده.

د۱۸۰۰ میلادي کال راپدېخوا په چین کې یوشمېر منظم سازمانونه جوړشول چې پدغه هېواد کې دیولړ انقلابونو مخکښان وو. دغه جګړې دومره

اوړېدي شوي چې په پای کې دډېرې ګډوډېو سبب شوې. یاده دې وي چې منچوریانو دغه انقلابونه داروپائیانوپه مرسته وټکول ، خوتردې وړاندې هم ځینې اروپایې هېوادونه دغه هېواد ته مخه کړې وه.

هغه لومړني اروپائیان چې په چین کې پیاده شول پرتګالیان وو. هغوی په ۱۵۱۲ م کال په چین کې پلې شول ،تردې وروسته یې دغه هېواد ته تګ راتګ ډېر شو اوپه ۱۵۵۷ میلادي کال یې په کانتون کې ماکولو ونیو .چې وروسته تردې یې په مستعمره بدل شوو. وروسته ترپرتګالیانو اوهالینډیانو دغه هېواد ته راورسېدل چې بیا وار انګلیسانو اوفرانسویانو ته ورسید.

دچین اوغرب ترمنځ داړیکو نوی پړاو دتریاکو دجګړې پرمهال پیل شو. دمخکې مویادونه وکړه چې چینایانو په اروپا کې دجوړشویو توکو رانیولو ته مینه نه ښوده نوځکه لدغه هېواد سره سوداګري ستونزمن کاروه . د انګلیستان دشرقي هند کمپنۍ لسګونه کلونه کېدل.چې دغه هېواد ته یې له هند څخه تریاک واردول ،ځکه چینائیانو دتریاکو ته اړتیا درلوده خوهمدا چې چین هڅه وکړه ترڅو تریاکو دراوړلو مخه ونیسي دانګلیستان دولت جګړې ته لاس واچاوه .پنځلس کاله وروسته په ۱۸۵۷ میلادي کال انګلیستان اوفرانسې په ګډه دچین پروړاندې دوهمه جګړه پیل کړه ترڅو دغه هېواد دخپلو سوداګرو پرمخ پرانیزي اوهم ددوی سیاسي استازي هلته ومنل شي ،خو چینائیانو بیاهم ونه منله همغه وو چې ۱۷۰۰۰ فرانسوي اوانګلیسي سرتیرې پیکنګ ته ننوتل اوقصدا یې دامپراطورمانۍ ته اورواچاوه ،ددغه وحشیانه عمل په ترڅ کې یرغلګرو دومره

شیان لوټ کړل ،چې حتی تردې وروسته چې دغه شیان اروپا اوامریکاته ورسېدل نوچیني صنایع هلته رواج شوې.

داروپائیانولپاره دلومړۍ جګړې په پایله کې دتین تسن تړونونه پرچین تحمیل شول چې وروسته له نورو اروپایې هېوادونو اومتحده ایالاتو سره هم ورته تړونونه لاسلیک شول. ددغو تړونونو پربنسټ چین بهرنیو هېوادونو ته ډېر امتیازات ورکړل چې وروسته دغې (طریقې ته دتړونونو سیستم )نوم ورکړ شو. په ۱۸۴۲ کال چینائیانو هانګ کانګ انګیستان ته ورکړ .دولس بندرونه چې په هغوکې شانګهای اونانکن هم شامل وود(تړونونو دبندرونو ) په نوم داروپائیانو پرمخ پرانستل شول.پدغوښارونو کې بهرنیانو ته اجازه ورکړل شوه ،چې په خپل زړه ژوند وکړي اودچین له ټولو جاري قوانینو څخه په امن وي ،هغه اروپائیانو چې په چین کې اوسیدل یواځې دخپل هېواد دقوانینو تابع ول نوله همدې امله په اروپایې کښتۍ ګانې تسه په سیندکې ګرځېدې راګرځېدې .ترڅو دهغو حقوق وساتي. سره ددې چې دجګړې له امله ډېر چینائیان زیانمن شوي وو. چین مجبور کړای شو ،ترڅو دجګړې دتاوان په توګه ډېرې پیسې اروپائیانوته ورکړي اوموافقه یې وکړه چې ددوی له وارداتي کالیو څخه به په سلوکې له ۵٪ څخه ډېرګمرکي محصول نه اخلي.چې په دې توګه چین داروپایې کالیو لپاره په ازاد بازاربدل شول. دګمرکي محصولاتو دراټولولو لپاره یوشمېراروپایې کارپوهان په دندووګمارل.دګمرکي ادارو اونویو لایقوکارمندانو په مرسته کوم عواید چې داروپایې وارداتي اموالو څخه په لاس راتلل دجګړې دتاوان په نوم انګلیستان اوفرانسې ته دجګړې دتاوان په نوم ورکول کېدل خویوڅه یې دمنچودحکومت

لاس ته ورتلل اروپائیانو عراده نه درلوده ،ترڅو دچین نظام رنګ کړي .بلکې غوښتل یې چې څومره چې کیدای شي لدغه هېواد څخه ګټه پورته کړي.

## چین خپلې دروازې تړي

اروپائیان چین ته دجنوب له لارې دکښتې ګانو په مرسته ورسېدل اوددغه هېواد جنوبي بندرونو ته هالینډیانو ،پرتګالیانو،هسپانویانو،انګریزانو اوفرانسویانو لارپیدا کړه اوپدغه ځایونو کې یې په سوداګرۍ لاس درلود ددغه هېواد په لوټولو هم بوخت وو.

اروپائیانو دچین له هېوادڅخه دلاډېرو غنیمتونو دترلاسه کولو په لارکې ډېرزیارونه ګالل اوډېرخوښ هم وو. دوی له ډېرو ګټو سره بیرته خپلوهېوادونو ته ستنېدل. دغو سوداګرو ډېری وخت چینایې سوداګر غولول اوله دوی سره یې ډېره بده رویه کوله. اروپائیانو به دخپلو ګټو دلاسته راوړولو په موخه چینایې مامورینو ته بډې ورکولې. دوی له سوداګرۍ پرته په چین کې دمسیحیت په تبلیغ هم بوخت وو او په ښارګرۍ چارو هم مشغول وو. دغو ټولو کارونو داروپائیانو پرورانډې دچینائیانو غصه راوپاروله ،اوله هغوی سره یې خپله سوداګري کمه کړه چې پرته له کانتون څخه نورو ځایونو ته داروپائیانو ورتګ هم منع کړای شو .وروسته تردې به اروپائیانو په ټاکل شوېو ځایونو کې اوسېدل اوحق یې نه درلود چې په هرځای کې وګرځي. اروپائیان دخپلو سوداګرو پرورانډې ددغه چلند په وجه په غصه شول اوچین یې به فرهنګه اوله اروپایې

فرهنګ سره په نه علاقه مندۍ تورن کړل . داروپايي هېوادونو پرمخ دچين ددروازو دتړلو موخه داوه ترڅو دهغو له اسارت څخه ځايونه وژغوري . چې ورپسې چاپانيانو اوکورئيانو هم ورته عمل ترسره کړ.

## پرچين باندې دپانګوالوهېوادونو تسلط

داروپايي اوشمالي امريکا دپرمختګ يولوی لامل ددغو هېوادونو له لورې دچين دهېواد لاندې کول وو. په ۱۸۳۹ ميلادي کال انګليستان خپل پوځ اوبحري قواوې چين ته واستولې ترڅو دغه هېواد ونيسي خواصلي موخه يې داوه ترڅو چين خپلې دروازې پرانيزي . چينائيان دځان ددفاع لپاره راپاڅېدل .چې دغه جګړه دترياکو دجګړې په نوم سره يادېږي .نوموړې جګړې درې کال دوام وکړ.چې په پای کې انګليسانو دشانګهای اونانکين ښارونه ونيول.

پداسې حال کې چې اروپائيانو دچين په هېواد کې دځان لپاره ډېر امتيازات ترلاسه کړل اويوشمېر ځمکې يې له هغه څخه جلاکړې. يوشمېر نورو هېوادونو هم په ورته عمل لاس پورې کړ. روسان داامورله درياب څخه راتېر اوپه هغه سيمه کې يې دځان لپاره يوايالت جوړکړ اوپه ۱۸۴۰ ميلادي کال يې دولاديو ستوک ښنسټ کېښود.

فرانسويانو په ۱۸۸۳ ميلادي کال دچين دمخالفت سره سره انام تخت الحمايه کړ ،انګليسانو درې کاله وروسته ۱۸۸۶ پربرما يرغل وکړ اوهغه يې ونيو جاپان هم چې ترډغه دمه ډېر غربي شوي وو اودغربيانو په څېر يې رفتارکاوه نويې دکوريا خپلواکي په رسميت وپيژند. داسمه خبره ده چې دغه

ځمکې هيڅکله هم د چين اصلي برخې نه وې خودغوځايونو له چين سره ډېرې ژورې سياسي اوفرهنګي اړيکې درلودې اوټولو به دچين امپراطور ته خراج ورکاوه.

جاپان اوس ډېر امپرياليستي تمايلات پيداکړي وو. دهغه هېواد يوشمېر پراختيا غوښتونکو ډلو له څه مودې راهيسې دچين دخاورې لورته سترګې پټې کړې وې.خو کله چې په ۱۸۹۴ ميلادي کال جاپان دکوريا پرسرچين ته دجګړې اعلان ورکړ دالمړی ځل وو ،چې دنړۍ ډېر هېوادونو دجاپان په امپرياليستي نيتونو پوه شول. ددې لپاره چې چاپانيان په وسلو اونوېو وسايلو سمبال اوسرتېرو يې دجګړې نوی فن زده کړی وو ،نوژريې چين ته ماتې ورکړه اوهغه هېواد يې مجبورکړترڅو په ۱۸۹۵ ميلادي دشيمونوسکي تړون لاسليک کړل ،چې دهغې له مخې چين کوريا اويوشمېر نورې ټاپووزمې جاپان ته ورکړې.

دچاپان دغه ناڅاپي برياليتوب په لرې ختيځ کې دبحران دزياتوالي سبب شو.تردغه مهاله هيڅوک متوجه شوي نه وو ،چې چاپان ترکوم حده پورې پياوړي شوي وو، ټول حيران وو چې څنګه يوغيراروپايې هېواد په جګړه اوديپلوماسۍ کې دومره استعداد پيداکړ.

روسې په ۱۸۹۱ په ټوله سايبريا کې داورګاډې دپاټلۍ په جوړولو لاس پورې کړ .ترکومه چې منچوريا اوځينې نورې سميې روسيې ته نژدې پرتې وې نوهغې هيڅکله اجازه نه ورکوله ترڅو کوم بل پياوړی هېواد دغه ځمکې ونيسي .همداراز دغه مهال المان هم پدې لټه کې وو ،چې په لرې ختيځ کې دځان لپاره

دپښو اینښودولو ځای پیدا کړي اوفرانسه چې له روسې سره دښوا ړیکو لېواله وو نوځکه یې لدغه هېواد سره داتحاد تړون لاسلیک کړی وو.

نوځکه ډېرژر روسې، المان او فرانسې په ګډه دتوکېو په بهرنیانو چارو وزارت اعتراض وکړ او درې واړه هېوادونو غوښتنه وکړه چې چاپان ددلیالوتونګ له ټاپووزمې تېر شي ، چاپان پدغه برخه کې زړه نازړه اوپه قهر شو خو بیا هم تسلیم شو ،دلیالوتونګ ټاپووزمه یې بېرته چین ته ورکړه اوکوریا اوفورموزیې دځان لپاره وساتل.

په چین کې یوشمېر خلک وو ، چې چاپانیان یې تل حقیر ګڼل نوځکه وروسته تردغې ماتې ډېر اندېښمن وو. دچین دولت چې ډېر خفه وو ،بله چاره نه لېده پرته لدې چې دهېوادغربي کولو ته عجله وکړي خواروپائیانو پدغه برخه کې تلوار نه کاوه اودایې نه هېروله چې څرنګه چاپان په ناڅاپي توګه دلویو دولتونو په قطار کې ځای ونېو نوځکه په ۱۸۹۸ کال کې یوځل بیالدغه هېواد څخه دلازیاتو امتیازاتو غوښتونکې شول.

په ۱۸۹۸ کال داسې ښکاره کېده چې دچین امپراطوري به دستروهېوادونو ترمنځ وویشل شي . المانیانوکیانوخلیج په زور د۹۹ کلونو لپاره اجاره ونیو اودشانتونګ په ټاپووزمه کې یې هم انحصاري حقوق ترلاسه کړل. روسانو دلیاالو تونګ ټاپووزمه چې تازه له چاپان څخه خلاص شوی وو ،په اجاره واخیسته اوپدې توګه یې یورت ارتورته لاس رسی پیداکړ اوبریالی شوو ،چې په منچوریه کې داورګاډي پټلۍ په جوړولو لاس پورې کړي ،چې دغه ناحیه دسایبریا له سرتاسري کرښې سره وصل کړې.

فرانسویانو یان کوانگ چو ونیو او انګلیسانو دیانګ تسه په سیمه دخپل نفوذ پرته وای ـهی ـوای هم ونیو ،ایټالویان هم دخپلې برخې غوښتونکې وو خو دهغوی غوښتنې ته کومه پاملرنه نه کېده ،دامریکې متحده ایالاتونو وېره پیداکړه چې کیدای شي ،دچین ټوله خاوره په انحصاري سیمووویشل شي ،نوځکه یې خپل سیاست اعلان کړ چې( دخلاصو دروازو ) په سیاست مشهور شو. ددغه سیاست موخه داوه چې دچین پراخه خاوره خپلواکه پاتې شي ،اوهغه سیمې چې دبهرنیو هېوادونو ترانحصارلاندې یادهغو دنفوذ ساحې دي ،باید دېخوا په څېر یواځې هماغه پنځه فیصده ګمرکي محصول ورکړي ،اودنورو هېوادونو سوداګرو ته هم اجازه ورکړل شي ،چې له توپیرپرته پدغه هېواد کې سوداګري وکړي.

انګلیستان لدغه سیاست څخه پلوي وکړه ځکه پدې وسیله دچاپان اوروسې مخه نیول کېده اودوی به دچین نورې سیمې نه وې نیولې.

دلویو دولتونو په قطار کې همدغه دوه هېوادونه وو چې کولای یې شول ترخو چین ته پوځي قواوې وردننه کړي ، دغه سیاست پدې معنی نه وو ،چې چین پخپله چینائیانو ته پرېږدي بلکې پدې معنی وو چې چین خپلې دروازې دټولو بهرنیانو پرمخ پرانیستې پرېږدي.

په ۱۸۹۹ میلادي کال یوپټ سازمان پاڅون وکړ. ددغه سازمان غړو دریل پاټلۍ له بیخه وایستلې اوپه هغو چینایانو یې هجوم وروړ ،کوم چې عیسویان شوي وو ،بهرنۍ سفارتخانې یې هم محاصره کړې اونژدې درې سوه بهرنیان یې هم ووژل.

اروپايي هېوادونه له چاپان اومتحده ايالاتوسره يوځای ددغه پاڅون ټکولو ته راووتل اوبريالي شول. دوی چين مجبور کړ ترڅو نوروامتيازات هم ورته ورکړي، اود ٣٣ ميلونه ډالرو معادل يې تاوان هم ورڅخه ترلاسه کړ چې له هغې جملې څخه څلرويشت ميلونه متحده ايالاتوته ورسېدل.

وروسته تردې په چين کې يو انقلابي غورځنګ جوړ شو چې موخه يې دمنچودلړۍ له منځه وړل اوله هېواد څخه دبهرنيانو شړل وو.

## په چين کې دبزګرۍ جګړې

په چين کې ځمکه والي زبېښاک له اقتصادي بحران سره يوځای ددې سبب شو چې خلک دواکمنانو پرورانديې په پاڅونونو لاس پورې کړي.خوډيری وخت دغه پاڅونونه په پراګنده ډول رامنځ ته کېدل. ددغو پاڅونونو څخه يې ځنې دومره پياوړي وو چې دهغو دځپلو لپاره ډېر زيار او وخت ته اړتيا پيداکېده . دغه پاڅونونه ډيری مهال دپټو مذهبي سازمانونو اوټولنو له لورې په لاراچول کېدل.

دترياکو دجګړې پايلې ، دبهرنيو اجناسو پرمخ دچين ددروازوپرانستل اوپرچين باندې داروپائيانو له لورې ديواړخيزه تړونونو منل دخلکو ورځنی ژوند ډېر تريخ کړ. اروپايي کالبو دچين صنايع کمزوری کړچې په پايله کې يې بومي صنعتګران بيوزلي شول، دترياکو واردات ددې سبب شول چې دهېواد دنقرې ټولې زخيرې له چين څخه ووزي اوپيسه يې بې ارزښته شي ، دناتيکنګ دتړون له مخې چين بايد دجګړې لوی تاوان وکړای وای، دچينګ لړۍ هم نورې مالي اوغوښتنې درلودې چې دبيوزلانو حالت يې لاپسې خراباوه،فقراوبيوزلي

په هغه اندازه وو چې نه یواځې بزګرانو خپلې ځمکې پرېښودلې ،بلکې صنعتګران هم مات شول ځکه دوی ونشوکړای دخپلو اجناسو لپاره بازارونه پیدا کړي. نوځکه زیارکښان اویو شمېر نورخلک دهونګ شیو چوان له فرقې سره یوځای شول.

همدغه مهال یانګ شیو –چینګ چه دډېرو سکرو دکان دیو کارګرزوی وو، پدې بریالی شو چې دبزګرانو رهبري پخپل لاس کې واخلي. نوموړې له دغو بزګرانو څخه دمحلي اشرافو پروړاندې یوپوځ جوړکړ اوډېر ژر دهونګ شیو-چینګ دفرقې له سترو رهبرانو څخه شو. دنوموړي په مشرئ یې پیروانو دیوانقلابي پوځ هسته جوړه کړه چې د((اسماني حکمران فرقه)) نومیده، ددغې فرقې په زرګونه پیروان وو. د ۱۸۴۹-۱۸۴۰ م کلونو ترمنځ دکوانګسي په غرونو کې سره راټول شول. دوی په ۱۸۵۰ م کال دمنچوري حاکمانو پروړاندې جګړه پیل کړه. دغه غورځنګ د۱۸۵۱ کال دجنوري په ۱۱ نېټه د تایپینګانو په نوم یادشو چې مشري یې هونګ شیو- چوان په غاړه وه.

تایپینګانور۱۸۵۱ کال په سپتمبرکې دکوانګسي دایلات پلازمېنه هونان ونیوه.په ښارکې ټول چارواکي ووژل شول. خزانه اودخوراکي توکو ټولې ذخېرې ضبط اودتایپینګانو په مشترک تبدیلي شوي دهغو شپږو میاشتو په موده کې چې تایپینګان پرهونان واکمن وو ددوی په اصطلاح د(اسماني قلمرو) دټینګښت په لاره کې لمړني ګامونه پورته شول. دهونګ شیو-چینګ دریونژدې مشاورینو ته دوانګ لقب ورکړل شو او دوی په ګډه یودولت جوړ کړ چې دهغه رهبري د یانګ شیو-چینګ په لاس کې وه. ددغو قواو شمېر د ۱۸۵۱ کال ترپایه

۵۰۰۰۰ تنو ته ورسید . دتایپینګانو پوځ په ۱۸۵۲ کال ددولتي پوځونو ترماتولو وروسته دشمال پرلور حرکت پیل کړ. ددغه حرکت په جریان کې دښارونو ،کلیواوبانډو ډېر خلک له دوی سره یوځای شول.

دغه پوځ د۱۸۵۲ کال په دسمبرکې دیانګ تسه سیند غاړو ته ورسیدل اوډېرژربې دري مهم ښارونه هریو ووچانګ Wuchang هانکوHankow اوهانیانګHanyang چې ډېر اقتصادي اوسیاسي ارزښت درلود ، ونیول.

تردې وروسته دتایپینګانو محبوبیت لاپسې ډېرشو اوپه زرګونو ،زرګونو خلک ورسره یوځای کېدل، وروسته دغه خلک په منظمو پوځي ټولګیوکې داخلېدل اوهمدلته یې پوځي فنونه زده کول . دخلکو هراړخیزملاتړ ددغه پوځ دبریالیتوبونو لوی ضامن وه، تایپینګانو به یوې سیمې ته دپوځ تراستولو وړاندې خپل مبلغین لېږل ، ترڅو ددوی موخې خلکو ته شرحه کړي. دوی له خلکو غوښتل ترڅو د چینګ دنړۍ په رانسکورولوکې ، دلویوځمکه والو دواک په ختمولو اوددولتي مامورینو اوحاکمانو په لمنځه وړولو کې لدوی سره مرسته وکړي، هغه سیمې چې به ددوی په لاس کې پریوتې ،هلته به یولوی نظام جوړیده. دشتمني اودولتي ذخیرې به په مساوي توګه پرخلکوویشل کېدل، ټول تجملي اوقیمتي شیان به یې له منځه وړل ، ځکه داپردوی دزبیښناک ننبه ګڼل کېده.

دغه مهال چې د تایپینګانو شمېرپینځه لکه ۵۰۰۰۰۰ تنو ته رسیدلی وو دهونان دنېولو وروسته دیانګ تسه درې ته راټول شول چې په همدې ځای کې ببېرۍ چلونکې هم وروسره یوځای شول په دې وخت کې شمېر یو ملیون تنو ته ورسید. تایپینګانو د۱۸۵۳ م کال په پسرلي کې دجنوبي چین پخوانۍ پلازمېنې

نانکینګ ونیو. او هغه یې د تایچینګ (اسماني ) ښار په نوم ونوماوه چې وروسته تردې تایپینګي دولت پلازمینې شو.په نژدې موده کې دوی په مرکزي او جنوبي چین واکمن شول. دلته دوی خپل نوی قانون تصویب کړ چې په هغه کې راغلي وو (ټولې ځمکې باید په ګډه وکرل شي. ...د دغې خاکي کرې ټول وګړي باید مساوي وي ،ټول باید لاس په لاس شو ،او ځمکې سره په ګډه وکرو ، باید یو ځای ډوډۍ وخورو.باید جامې په مساوي توګه وویشو ، پیسې باید یو ځای مصرف کړو ترڅو ټول خوراک او پوښاک پیدا کړو ) پر ځمکو فردي ملکیت پای ته ورسید او خلکو ته دکورنۍ دشمېر او اړتیا په اندازه ځمکه ورکول کېده ، دښځو او نارینو حقوق سره مساوي اعلان شول، هغه اندازه ځمکه چې نارینو ته ورکول کېده په همغه اندازه ښځو ته هم ورکول کېده .

بزګري کمون اقتصادي، پوځي او سیاسي واحد ګڼل کېده. له هرې کورنۍ څخه یو تن باید پوځ ته شامل شوای وای. تایپینګانو نشوکولای چې شخصي شتمني ولري . صنعت ګران هم باید په صنفي ډلګېوکې تنظیم شوي وای. اوخپل تولیدات یې باید دولتي ګودامونو ته تسلیم کړي وای، اوپه بدل کې دخپلې کورنۍ داړتیا وړتوکي لاسته رواړې وای.

دتایپینګانو په قلمروکې دښوونې اوروزنې ، دزړو عنعنو دلغوه کولو او کورنېو اړیکو په اړوند هم ځنې مترقي اقدامات وشول چې ددې لپاره یې ښې پایلې درلودې. دبزګرانو دغه انقلابي مبارزه دچینګ پر امپراطورانو کلک ګوزار و. دولتي پوځونو دهغوی پروړاندې بریالیتوب نشو ګټلای.

دچین په شمالي اوجنوبي برخوکې هم یوشمېر پاڅونونه اوچریکې جګړې پیل شوي اود **۱۸۵۵** کال ترفبروری پوري دشانګهای ښارهم پاڅونکوونکوته په لاس ورغی . ددغه ځای پاڅونکوونکوهڅه وکړه ترڅوله (اسماني پلازمیني)سره اړیکې ټینګې کړي . دهیواد په مختلفو سیموکې اقلیتونوهم دچینګ دلړي درهبرانوپروړاندي پاڅونونه وکړل.که چېري دغه پاڅونکوونکې له تایپینګانو سره یوځای شي واي نوپه اسانی یې کولاي شول چه دمنچولړي رنګه کړي . خوپدغه برخه کې دتایپینګانوغلط سیاست له بل هرډول سازمان سره دیوالي مخه نیوله.

وروسته تر هغې چه تایپینګان پرنانکینګ واکمن شول له وخت څخه یې ګټه پورته نکړه اوپه شمال کې یې ددغه هیواددپلازمیني دنیولولپاره اقدام ونکړ. همدغه مهال دوي په نورونول شویو سیمو کې هم ځانونه ووپیاوړي کړي نوګوروچه په حقیقت کې دنانکینګ ترینولووروسته دهغوپر مختګ عملاً تم شوي وه. همدغه تم کیدواشرافواوځمکه والوته موقع ورکړه خپلې قواوې راټولې اوخپل سنګرونه پیاوړي کړي په پای کې تایپینګانوهم د **۱۸۵۳** کال دمی په میاشت کې دشمال پر لورحرکت وکړ اودمنچوري سرتېر وترماتولووروسته یې داکتوبرپه میاشت کې ځانونه تین ـ تسین ته ورسول. خوپه همدغه ځای کې دوي له یو شمیر ستونزوسره مخ شول. دوړدومزلونووروسته تایپینګی سرتیري ستړي وو ، دشمال اب وهوا هم ددوي له مزاج سره برابره نه وه ، له اکمالاتي پایګاوسره یې هم اړیکې پري شوې اوکومه مرسته ورته ونه رسیده ، په شما ل کې یې څوک له لیکوسره یوځای نشول اوهغه ددې لپاره چه دشمال خلک په

مشکله ددوې په لهجه پوهيدل ، دوي له پټوسازمانونوسره داړيکوجوړولوهځه هم ونه کړه.

په تين-تسين کې دولتي قواواوتاپپينګان له ځلورو خواوکلابند کړل اوترکلکو ګوزارونو لاندې يې ونيول.له نانکينګ څخه هم دوی ته کومه مرستندويه قوه راونه رسيده ځکه هغوی په شانتونګ کې ماتې وخوړه ، تاپپينګانو ترمرګه مقابله کوله اوپدې ډول ده کاله وجنګېدل.

په پای کې انقلاب ضدقوتونو دتاپپينګانو له خپلمنځي اختلافاتو څخه ګټه پورته کړه، همدغه مهال بهرنيان هم ددوی مرستې ته راورسيدل ،په پيل کې بهرنيان دانتظارپه حالت کې وو اوکتل يې چې دترازو پله کوم لورته کږيږي خوددې لپاره چې دچينګ لړۍ کمزورې شوې وه اوله هغوی هم پرته لدې نورامتيازات هم ترلاسه کولای شول نوځکه يې لومړی له تاپپينګانو سره اړيکې جوړې کړې اوهغوی هم پرته لدې چې دبهرنيانو له موخو ځان خبرکړي، پردوی باوروکړ، خوهغه مهال چې له دولت څخه يې نورامتيازات هم ترلاسه کړل نويې دتاپپينګانو دله منځه وړلو ته اراده وکړه. پدغه برخه کې دفرانسې اوبريتانياقواوو چې په ډېرو پرمختللو ټوپکو اوتوپو سمبال وو ،مهم رول ولوباوه ، خوددې ترڅنګ دتاپپينګانو ترمنځ طبقاتي اختلافاتو هم ډېر اغېز درلوداود ۱۸۵۲ م کال په سپتمبرکې ديانګ شيو-چينګ پروړاندې يوه توطئيه جوړه شوه ،چې په پای کې يې هغه دخپلې کورنۍ اوزرګونو پلويانو سره ووژل شو. ديانګ شيو –چينګ تروژلو وروسته دغه غورځنګ غلی نشو. تردغې پېښې وروسته شي تاکای دتاپپينګي سرتېرو يوه لويه برخه له نانکينګ څخه

وايستله اوددولتي سرتېرو پروړاندې يې په تازه جګړو پيل وکړخوبياهم دغه غورځنګ بريالی نشو ،چې دپخوا په څېريوه واحده رهبري پيداکړي، نوځکه يې مخالفين ورځ تربلې بريالي کېدل.

وروسته تردې دتايپينګانو ترمنځ داشرافو يوې نوې طبقې سرراپورته کړچې دتايپينګانو له لومړنيو غوښتنو سره يې کومه علاقه نه درلوده ،خو ډېرو يې په بزګرې کورنيو پورې تړاو درلود ، دوی يوځل بيا پرخلکو اجباري کارونه اولوړې مالي تحميل کړې.چې دغه کارله مقاومت سره دبزګرانو مينه لږه کړه ،خو لدې سره سره بياه هم دفيوډالي نظام اومنچوواکمنۍ پروړاندې مبارزې پای ته ونه رسيدې ، دغه مهال يو بل شخص چې لي تسو چنګ نومېده دتايپينګانو دقوماندان په توګه راڅرګند شو چې په ځوحملوکې يې دانقلاب دښمنان مات اونانکينګ يې يوځل بياونيو. دغه شخص دشانګهای دنيولو هڅه هم وکړه ،خوپدغه برخه کې يې بريالیتوب په برخه نشو.

د۱۸۲۰—۱۸۲۲ کلونو ترمنځ لي تسو چنګ Litzudheng يوشمېربريالېتو - بونه وګټل خو نورپه هغه حالت کې نه وچې دتايپينګانو واکمني وژغوري .په ۱۸۲۲ م کال بهرنيانو له دولت سره بې دريغه مرستې پيل کړې ، دوی په لومړي سرکې داړيکو په جوړولولاس پورې کړخو دغه کاربسنه نه کوله نو ځکه يې وروسته دمنظم پوځ په جوړولو هم پيل وکړ،دامپراطور پوځ ته يې کافي وسايل ورواستول چې په هغو کې پرمختللې وسلې،مهمات اوپوځي کارپوهان هم شامل وو . داټول ددې لپاره ترڅو دولت دغه جګړه وګټي.

دپردېو مداخلو په چین کې دبزګرې جګړو په پای ته رسولوکې مرسته وکړه، دولتي سرتېرو د۱۸۲۲ -**۱۸۲۵** م کلونو په اوږدو کې وکولای شول ترڅو دپاڅون کونکو اصلي سنګرونه ونیسي. په پای کې د**۱۸۲۵** کال دجولای په **۱۹** انقلاب ضد قوتونو نانکینګ هم ونیو ،چې پکې سلګونو زره سرتیري اوملکي وګړي ووژل شول ،اوپخپله لي سو-چنګ هم ډېروحشیانه ډول قتل کړای شو ، خودتایپیګانو کوچنېو ډلو بیاهم جګړې ته دوام ورکړ. دبزګرانو چریکې ډلوپه مختلفو سیموکې فعالیت درلوداودچینګ دولت په راتلونکو کلونو کې هم بریالي نه شوتربزګري پاڅونه دهېواد په شمال کې غلې کړي. په هرصورت پدغو جګړو کې یواځني بایلونکې بزګران وو اوبس.

خولدغو جګړو څخه بزګرانو هم ډېرې تجربې ترلاسه کړې ترڅو په راتلونکې کې ترې ګټه واخلي.په همدې حال کې پورتنیو طبقاتو هم درک کړ ،چې دواک دساتلو لپاره په ټولیزه اوداقتصادي اړیکو کې دځینو بدلونونو راوستل اړین کاردی.

# جاپان

## عمومې ځرګندونې

دجاپانه هېوادپه لرې ختیځ کې پروت دی ،چې له ځلورو خواو څخه اوبو کلابند کړی ، دغه هېودوچه کې له هیڅ کوم هیواد سره ګډه پوله نه لري.

چاپان له څلورو اساسي اوډېرو نورو غټو اوکوچنېو ټاپوګانو څخه جوړشوی چې اساسي ټاپوګان يې اوکایدو، هانشیو،شیکوکو اوکیوشوري ،خوددې ترڅنګ اوکیشیما ،تانه ګاشیما، یاکوشیما،تسوشیما، دیوکیو،اکیناو اوځنې وروهم دیادولو وړدي.

ددغه هیواد ساحلي سیمې دبېړۍ چلولو لپاره ډېر ښه ځایونه لري چې دچاپان اهمیت یې لاپسې زیات کړی دی.

دچاپان پلازمنیه دتوکیوښاردی چې دنړۍ دډېرو مهمو ښارونو له جملې څخه شمېرل کیږي. خونورډېر لوی اومشهور ښارونه هم لري چې ځنې یې دادي: اموري،موریوکا،ني ګاتا، یوکوهاما،تاکاتا،هیروشیما،کیوتو، اوساکا، کوب، ناکاساکي، میازاکي اوداسې نور.

دغه هېواد ۱۰۸۰ بندرونه لري چې ۱۲۳ یې غټ اونوریې متوسط اوواړه بندرونه دي ، دلویو بندرونو په ډله کې یې هوکوداتا، اوتارو، سندای، توکیو، یوکوهاما، ناګویااوساکا، تیګاتا، کیوشو اوداسې نور...

دچاپان نژاد ژیړ چاپاني ۹۹٪ ،۲ او نور ۰٪ ،۲ چې زیاتره یې کوریائیان دي ، دېن یې بودایې ۷۲٪،۵ شینتو ۵٪ ،مسیحي ۰٪ ،۷ ، اسلام ۳٪ . ژبه یې چاپاني اولیک یې هم چاپانی دی.

دحکومت شکل یې مشروطه پاچایې دی ، اساسي قانون یې په ۱۹۴۷ زیږدیز دمی په ۳ نېټه نافذشوی دی ، په چاپان کې صدراعظم دپارلمان (دیت Diet ) له لورې معرفي کې کیږي ، چې پارلمان یې دوه جرګې (مشوره یې اوولسي جرګه ) لري چې دمشوره یې جرګې دغړو شمېر یې ۲۵۲ اوولسي جرګې شمېر یې ۵۰۰ تنه دي چې دخلکو له لورې دڅلورو کلونو لپاره ټاکل کیږي ، دچاپان حقوقي نظام دامریکي او انګیستان تراغیزې لاندی دی.

په چاپان کې ډېر سیاسي ګوندونه اوډلې فعالیت کوي چې لېبرال دموکرات ګوند ، دجاپان دموکرات ګوند ، لېبرال ګوند ، دجاپان کمونست ګوند ، سوسیال دموکرات ګوند اوداسې نور دي.

دجاپان په پرمختللي اقتصاد کې دابرخې ډېرې دیادونې وړ دی، دصنایعو غټ دولتي شرکتونه، دکار ډېر لوړ اخلاق، ډېره زیاته پرمختللي تکنالوژي اوددفاعي چارو لپاره لږ لګښت..

همدغو مشخصاتو جاپان ددې جوګه کړی چې دنړۍ دوهم ستر اقتصادي ځواک شي ، ددغه هېواد دصنعتي محصولات ، اوسپنه ، پولاد اونور فلزات، دبریښنا درانده سامان الات، دکانونو رایستلو اوساختماني چارو ماشین الات ، بېړۍ،ټوکران ،وربښم اومصنوعي وربښم، ډول ډول نقلیه وسایط، دتیلو چاڼ کول ،بایسکل،موټرسایکل، الکترونیکي اومخابراتي وسایل، لویې

اوکوچنۍ فابرېکې ،اتوماتیک اوکمپیوټرې سامان الات ، کاغذ، بخارۍ ،ګاز،ډېزل اوبرقي اورګاډي اوپټلۍ یې، اولوتکې ،طبي سامان ، عکاسي ټول وسایل، پلاستیک، دکرنې ټول ماشینونه اونور په سلګونو شیان دي.

دجاپان ٪۱۰۰ وګړي په لیک اولوست پوهیږي چې دادجاپان دښوونې اوروزنې دخورا پیاوړي سیستم څرګندونه کوي.

جاپان له روسې ، جنوبي کوریا اوچین سره دځمکو پرسرلانجې لري.

## تېر تاریخ ته یوه لنډه کتنه:

دجاپان روښانه تاریخ له مېلادڅخه ۶۶۰ کاله دمخه پیل کیږي ، پدغه کال دجیموتنواامپراطورۍ جوړه شوه ، په لومړیوپیړیو کې داسې واکمنۍ وې چې مشران یې زیاتره مذهبي ډوله کسان وو.

په ۵ میلادي پیړۍ کې دیاماتو قوم پاچاهۍ جوړه کړه چې دچاپان خواره واره خلک یې یوموټې کړل ، ددوو پیړیو په اوږدو کې یې دخپلې واکمنۍ ساحه پراخه کړه اوله ګاونډیو هیوادونو سره یې ګټورې اړیکې جوړې کړې. تر۸ پیړۍ پورې دغه هیواد ډېر پرمختګونه وکړل اویو پیاوړی مرکزي حکومت یې منځ ته راوست

.

د ۹ پیړۍ په پیل کې دفوجي واراکورنۍ په چاپان کې واکمنه شوه ، لدې وروسته ملوک الطوایفي راغله اوټوله دولسمه پیړۍ په کورنیو جګړو کې تېره شوه ، دهمدغې پیړۍ په پای کې دمیناموتوکورنۍ واکت ته ورسیده .

دغې کورنۍ پوځي حکومت جوړکړ اومشر یې بوري نومونني توکیو دهېواد پلازمینه غوره کړه ، تردې وروسته په راتلوونکو شپږو لسیزو کې امنیت اوملي

یووالی ټینګ وو، په ۱۳ میلادي پیړۍ کې دچین مغلولانو دقابلای خان ترمشرۍ لاندې دوه ځلې هڅه وکړه ترڅو دچاپان جزایر ونیسي ،خوپدې خاطر چې دوی په بحري چاروکې پوره مهارت نه درلوده نوطوفانونو څوځلې ددوی قواوې له منځه یوړې اوچاپان وکولای شو ترڅو خپلواک پاتې شي.
په ۱۲۲۳ م کال کې دهوجویان کورنۍ دمیناموتودکورنۍ ځای ونیو چې ۷۰ کاله یې واکمني وکړه په ۱۳۳۳ م کال امپراطوري یوځل بیاراژوندۍ شوه چې یوا ځې پنځه کاله یې دوام وکړ، په ۱۳۳۸ م کال داشیکاګاه پوځې واکمني جوړه شوه چې دوه پیړۍ یې دوام وکړ ، په همدغه کال دچاپان دسترو قبایلو دریو مشرانو چې تویوناګا، هیدیوشي اوایباسویو په بل پسې واک ترلاسه کړ ، ایباسو دتوکو ګاوان دلړۍ بنسټ کېښود چې تر۱۲۰۳ م کال پورې دچاپان واکمن وو، دغه واکمن دجاپان دروازې دبهرنیانو پرمخ وتړلې اودمسیحیت خپریدل یې هم وځنډول.
هغه لومړني اروپائیان چې له جان سره یې سوداګري پیل کړه ، پرتګالیان وو، هغوی دجاپان وربښم خوښول ،دوی په ۱۲ میلادي پیړۍ کې چاپان ته لاره پیداکړه . پرتګالیانودوریښمو په بدل کې چاپان ته ټوپکې اوپشمي ټوکران ورکول ، ددوی په تعقیب هسپانویانو هم دغه هیواد ته مخه وکړه اویوشمېر جاپانیان هم په ۱۲ میلادي پیړۍ کې اروپاته ورغلل ،البته داهغه کسان وو چې مسیحي دین یې منلی وو ، له دوی څخه څلورتنه یې په ۱۵۸۴ کال دایټالیا هېواد ته دچاپان ددوشني دمراتبو دوراندې کولو په موخه واستول شول ، برسیره پرایټالیا دغه پلاوې دمرکزي اروپایې هیوادونو لکه: فرانسې اوپرتګال ته هم ورغلل چې ددغه ځای په درباریانو کې ورته تود هرکلی وویل شو. په روم کې په

لسګونو زرو خلکو دغو سفیرانو ته هرکلی ووایه اودهغو جامو اومېړانې ته حیران وو . په راتلونکې کال دغه پلاوې چې په ډېر شمېر کې ساعتونه ،رنګه نقشې، اودموسیقۍ الې ورسره وې بیرته چاپان ته راستانه شول ، دڅوکلونو په موده کې دجاپاني اشرافو ترمنځ داروپايې ژوندانه طرز اورواج وموند حتی اروپايې غذاګانې هم رواج پيدا کړ.

## جاپانیان دچېن په څېر داروپائیانو پرمخ پولې تړي:

اروپائیان ونتوانېد ل ترڅود جاپانیانو پاملرنه ځان ته راواړوي اودچینائیانو په څېر یې له اروپائیان سره دلچسپي نه درلوده نوځکه یې خپلې پولې دهغوی پرمخ وتړلې ، دجاپانیانو ویره داوه چې ونشي خپل هېواد داروپائیانو په منګلولو کې اسیر کړي. داویره هغه مهال راپیدالشوه چې **۱۵۹۷** زیږدیز کال کې یوه هسپانوي کښتۍ دجاپان پولو ته ورسیده،دوی دجاپان په خاوره کې پلي شول . هسپانویانو فکرکاوه چې ددجنوبي اومرکزي امریکې په څېر به دلته پرمختګ وکړي خوپه چاپان کې داسې څه ونه شول ،کله چې هسپانویانو په دغه هېواد کې پلي شول نودخلکو په ازار اواذیت یې پیل وکړ خودمرکزي حکومت له لورې ددوی دغه وحشیانه عمل وټکول شو ، په غه لېدنه کې چې دکښتي له کپېتان سره وشوه ،هغه دهسپانیادفتوحاتو نقشه جاپانیانو ته وښوده اوویې ویل دهسپانویانو شړل اودهغه هېواد دپیاوړي شاه دملاتړ نه منل به جاپان ته خرابې پایلې ولري همدغه وخت له کپېتان څخه پوښتنه وشوه چې ستاسې دکوچنې هېواد دپرمختګ علت څه شی دی اونوموړي ورته معلومات ورکړل.

جاپانیان په نړۍ کې دځان لپاره وړځای پیداکړ، جاپان دهغو هېوادونو په ډله کې دی چې دخپل تیزفکر له مخې یې شهرت لري اوډیره موده کیږي چې په سلطنتي ډول اداره کیږي.
جاپان امپراطوران دجاپانیانو په عقیده ټول دهغې کورنۍ څخه دي چې دخدای له لورې ورته دغه سرلوړي اوواکمني ورکړشویده (خو نن ورځ دجاپان ملت په تدریجي ډول دغه عقیده پریښې اوهغه ځکه چې نن دغه هېواد دنړۍ ډیر ستر صنعتي اوروښانفکره هېواد دی ) ټول اداري اوسلطنتي کارونه دسلطنتي کورنۍ له لورې اجراکیږي ، هغه لویې کورنۍ چې په جاپان کې شتون لري له امپراطور سره ملګري دي ، ددولت ډېرې اداري دهمدغو کورنیو په واک کې دي.
دجاپان عام وګړي په زراعت اوکب نیولو مشغول دي.هغوی دولت ته لوړې مالې ورکولې په همدغه پېړیو کې مثلاً دورجو ۱۱۲ برخه دمالې په ډول حکومت ته ورکول کیږي ، همدارازجاپاني کورنۍ اړدي ترڅو وریښمین ټوکران چې دپېغلو اوښځو له لورې په کورونو کې اوبدل کېدل ، حکومت ته دډالۍ په توګه ورکړې ، هرنفر مجبور ووترڅو له ۲۱ کلنۍ څخه تر۳۲ کلنۍ پورې هر کال یوه میاشت دحکمرانانو په خدمت کې تیره کړې ، ددغو ځوانانو دنده دسړکونو اولارو ،کورونو جوړولو اوله غرنیو سیمو دډول ډول لرګېو راوړل وو.

## جاپان ته داروپایانو راتلل

پرتګالي سوداګر هغه لومړنی ملت وو ،چې په ۱۵۴۱ میلادي کال دجاپان په غاړو کې پلي شول.
اوشاید هغه هم لومړني اروپاییان وچې داسیاپه ختیځ کې دجزیرو له لېدلو بريالي شول ، تردې وړاندې په ۱۳ میلادي پیړۍ کې وتلی سیلانی مارکوپولو هغه مهال چې په چین کې په سیاحت بوخت وو دجاپان په اړوند يوڅه معلومات ترلاسه کړي وو ،خو پخپله هیڅکله هم دجاپان په لېدلو بريالي نشو.
په هرترتیب پرتګالي سوداګر دغه هېواد ته له ورتګ سمدستي وروسته وپوهېدل چې دجاپان شمتنې کورنۍ په اروپاکې له جوړوشویو ټوپکو ،باروتو ، ښیښه يي شیانو اوورېنو ټوکرانو سره ډېره مینه لري.
څرنګه چې پوهیږو اروپائیانو تله په نورو هیوادونو کې دمداخلې لپاره لومړی له سوداګرو څخه کار اخیست اووروسته يې بیادخپلو شومو موخو په عملي کولو لاس پورې کاوه ،جاپانیان په لمړي سرکې پدې نه پوهیدل ،خووروسته وروسته دهغوی په نیتونو خبرشول. نوځکه يې دناکزاکي له بندر پرته نورټو ل بندرونه دهغو پرمخ وتړل. خوددغه بندر له لارې هم یواځې له څوهالینډي سوداګرو پرته بل چاسوداګري نشوه کولای اوله نورو اروپائیانو سره اړیکې شلول شوې وې.
سره ددې چې دغه اړیکې هم دومره پراخې نه وې خودجاپانیانو لپاره داهمیت وړ وي ،ځکه دغه ځای له غرب سره داړیکو لپاره ښه دروزاه وه.
جاپانیان په ۱۸ او ۱۹ پېړیوکې یواځې دخپل هېواد دخپلواکۍ دساتلو په فرکې کې وو نوځکه يې له غربي نړۍ سره داړیکو لپاره کومه لېوالتیانه ښوده، همدغه

مهال یو ائینی ځای چې په هغه کې جاپانیانو ،دهالینډیانو ژبه اوغربي علوم زده کول.

دناکازاکي بندروو ،همدغه بندرله لارې دورځپاڼو،کتابونو، اونوروپاڼو په لوستلو جاپانیانو ،ځانونه په اروپاکې له نویو اختراعاتو ،پرمختګونو اونورې نړۍ خبرول. دوی دناکازاکي دبندر له لارې دنړۍ پنځه لوې وچې اوپه هغوکې حالات په ډېر دقت سره څارل.

## د ۱۹ م پیړۍ په نیمایې کې دطبقاتي تضادونو ډېریدل

دجاپان دټولنې جوړښت د ۱۹ میلادي پیړۍ په نیمایې کې دفیوډالي ټولنې ډېره ښه بېلګه وه ، دجاپان دټولنې له ۸۰٪ څخه ډېر وګړي بزګران وو، ځمکو په ځواکمنو اشرافو پورې اړه درلوده ،دبزګرانو ژوند ستونزمن و،هغوی به داشرافو لپاره بیګارکارونه کول ، ډول ډول مالیې به یې ورکولې چې دمحصولاتو نیمایې برخه یې پکې له لاسه ورکوله.

دبزګرانو بې رحمه استثمار ،دوچکالۍ له کبله دمحصولاتو کمېدل اونور عوامل دبزګرانو لپاره دقحطي سبب شو چې په پایله کې یې بزګرانو خپلې ځمکې له لاسه ورکړې.

په کلیواوبانډو کې سوداګر اوسودخورو خپل ورځ تربلې ډېراوه ، اودفیوډالیزم سنګرونه یې ورانول ، په سواداګرو پورې دبزګرانو تړل کېدلو د ۱۸ پېړۍ په وروستیو اود ۱۹ پیړۍ په پیل کې طبقاتي تضادونه ډېر کړل ، دغه مهال په ټول هېوادکې بزګري پاڅونونه پېښیدل، دغو بزګرانو دمالیاتي مامورینو او اشرافو

دشړلو اواستبدادي واکمنۍ پروړاندې دمبارزې په موخه سلا یا وسلې ته لاس وروړ.

دجاپان په هیوادکې له۱۷۰۴ زیږدیز کال څخه تر۱۸۰۳ زیږدیز کال پورې **۲۵۴** لوی بزګري پاڅونونه ثبت شویدي چې دا۱۷ پیړۍ دپاڅونونو په پرتله درې وارې زیات دي ، په ښارونو کې هم بیوزلانو ، صنعت ګرانو اوبېوزله شویو سوداګرو نارامي پیل کړې، سره ددې چه ددغو دواړو ډلو ترمنځ هیڅ ډول منظمې اړیکې موجودې نه وې خوپرېومهال ددغو دواړو غورځنګونو پیل دحاکم نظام لپاره ګواښ وه.

سره ددې چې ډېرى وخت دغه بزګري پاڅونونه په پراکنده ډول رامنځ ته کېدل اواکثراً به اشرافو هغه غلې کول خوددغو پېښو تکرار دتولو ګاوادکورنۍ دواکمنۍ پرمهال دجاپان ټولنیزو او اقتصادي جوړښت متزلزل کړ.

د ۱۹ میلادي پیړۍ نیمایې دلویو بزګري پاڅونونو په پیل کیدو سره مشخص کیدای شي. یواځې د لسوکلونو په ترڅ کې له **۱۸۳۳** څخه تر**۱۸۴۲** زیږدیز کال پورې **۹۹** څخه ډېر پاڅونونه پېښ شول.

په ښارونو کې هم بغاوتونه ډېر شول په **۱۸۳۷** زیږدیز کال کې داوزاکاښاریانو اودهغه دشاوخوا سیمو بزګرانو ګډ پاڅون وکړ، پاڅونکوونکو دبډایو خلکو کورونه وسوزول ، دوریژودګدامونو دروازې یې ورماتې اوهغه یې یې په خپل منځ کې وویشلې. هغه بدلونونه چې په هېواد کې پېښېدل دتوکوګاوادپوځیانو په مشرې یې دجاپان دفیوډالي ټولنې سیاسي جوړښت اوداشرافو ځمکه والو ستنې کمزورې کولې.

جاپان ته دامریکې دمتحده ایالاتو اواروپا لاس اوږدول

دپورته یادوو شویو حالاتو په شتونو کې جاپان دپانګوالو هیوادونو ترفشار لاندې راغی د۱۸۵۳ زیږدیز کال په اوږدوکې څلورجنګي کښتۍ ګانې چې په پرمختللي توپخانه سمبال وي دکومو دوپري Commodore perry ترقوماندې لاندې دجاپان غاړو ته ورسیدلې دجاپان ددولت لېږل شوي استازي دکښتۍ ګانو له کپتان څخه وغوښتل ترڅو اوراګاله تنګیو څخه دناکازاکي دبندر پرلورچې دبهرنیانو پرمخ پرانیستي وه دشاتګ امر صادر کړي اوهلته له جاپاني واکمنو سره درسمي اړیکو هېله څرګنده کړي.

خوپرې دغه غوښتنې ته پاملرنه ونه کړه اوڅرګنده یې کړه هغه دنده لري چې په همدغه ځای کې دامریکا دجمهوررئس پیغام دټولو رسمي تشریفاتو له نظر کې نیولو سره دجاپان امپراطور ته وسپاري. پري په راتلونکي لېدنه کې یادونه وکړه چې بې له ځنډه به خپل ټول ځواکونه دهغې دندې داجرا لپاره چې ورسپارل شوي وچې ته راولي.

پدغه سیمه کې دجاپان سنګرونه کمزوري وو ځکه دوی یواځې څوکوچني توپونه یې درلودل.

لنډه داچې دغه مهال جاپان دخپلو پولو ددفاع لپاره هیڅ ډول امادګي نه درلوده . کله چې امریکایې قوماندان پدغه حقیقت وپوهید نوخپلو کښتي ګانو ته یې امر وکړ ترڅو دتوکیو دخلیج پرلور حرکت وکړي کوم ځای ته چې پلازمینه ډېره نژدې پرته وه ، نوځکه جاپانیانوته بله لاره پاتې نشوه ، نوځکه یې دمقابل لورې غوښتنې ومنلې. پري د۳۰۰ افسرانو اوسرتیرو په ملتیا د امریکا دجمهور ریس پیغام جاپاني لورې ته وسپاره ، دجمهور ریس په پیغام کې لیکل شوي وو، ښه ده ترڅو جاپاني دګوښه توب له سیاسیت څخه لاس واخلي اوله امریکې سره

يوسوداګريز تړون لاسليک کړي ، همدارازپدغه پيغام کې راغلي وو: امريکاته اجازه ورکړي ترڅودجاپان په خاوره کې خپلې بحري ته پايګاوې جوړې کړي. پري اعلان وکړ که چېرې دغه وړانديزونه ونه منل شي نوامريکا به لدې لاړېر پياوړي بحري ځواکونه جاپان ته راواستوي.

هغه له جاپاني چارواکو وغوښتل ترڅو دراتلونکي کال داپريل يامی مياشتو پورې دغو وړانديزونو ته خپل ځوابونه ووايې.

پري جاپانيانو ت کافي وخت ورکړ ترڅو ددغو وړانديزونو له هکله ښه سوچ وکړي ،ځکه نوموړی بايد دچېن هېواد ته تللی وای اودتايپينګانو پروړاندې يې دمتحده ايالاتو له هغوامتيازاتو دفاع کړی وای کوم يې چې دپکينګ له واکمنو ترلاسه کړی وو ، امريکا پريکړه کړې وه ترڅوپه چين کې دچېنګ له لړۍ ملاتړ وکړي اوپه بدل کې يې ديولړنورو امتيازاتو غوښتونکی هم وه. پري پدې هېله چې فيوډالي ضد انقلاب دامريکالپاره مناسب حالات جوړکړي اوکولای شي ترڅو په چين کې لاډېره مداخله وکړي په بيړه جاپان دچين په موخه پريښود اوپه هغه لوريې حرکت وکړ.

خودلته په جاپان کې سره ددې چې دپري دوړانديزونو په اړوند دچارواکو ترمنځ اختلافات رابرسيره شول خوبياهم دجاپان پوځي کمزورتيا ته په کتلو سره اکثريت پرېکړه وکړه ترڅو دپري واندېزونه ومني.

د۱۸۵۴ زيږديز کال کې دامريکاکښتۍ ګانې چې داځل يې شمېر نهو ته رسيده اوپکې دوه زره افسران اوسرتيري سپاره وو ، بياجاپان ته ورسيدې اودتوکيو په خليج کې تم شوې . داځل دامريکايانو کړنې ترپخوا ډېر دزور زياتي وې، ددې لپاره چې جاپانيان وويروي نوامريکايانو توپونو پرله پسې ډزې کولې چې

جاپانیان یې دښکاره جګړې ترتهدید لاندې نیولې وه. امریکایې لورې پدې کار سره غوښتل ترڅو دغه هیواد چین د۱۸۴۴ کال دتړون په څېر یوتړون له امریکې سره لاسلیک کړي . جاپان حکومت چې بله لار نه درلوده مجبور شوترڅو دامریکایانو غوښتنو ته غاړه کیږدي.

ددغه تړون له مخې جاپانیانو دشیمودا اوهاکو دات بندرونه دامریکایانو پرمخ پرانیستل خودشیمودابندریې په بشپړ ډول دهغوی په واک کې ورکړ. دتړون په موادوکې جاپانیانو داهم ومنله چې امریکایان کولای شي په ازاده توګه دجاپان په خاوره کې داړتیاوړخوراکي توکي اودسون مواد راونیسي ، هم به دراکړې ورکړې پرمهال هرډول بهرني پېسې اخلي.

دغه نوی تړون په یوه نوی بازار کې دامریکا دمتحده ایالاتو دنفوذ زمینه برابره کړه.

دپري تهدیدونکي تاکتیکونه دامریکا دسیاسي کړنو له درونډ هرکلي سره مخ شول اودامریکې دولت هم هغه ته شل زره ډالره دانعام په توګه ورکړل.

تردې وروسته په ۱۸۵۴ کال له بریتانیا ،په ۱۸۵۷ کال له هالینډ ،په ۱۸۵۸ له فرانسې اووروسته له یوشمېر نورو هیوادونو سره ورته تړونونه جبراً لاسلیک شول. په ۱۸۵۵ کال دروسې اوجاپان خبرې اترې وروسته تردووکلونو پای ته ورسیدې اودروسې اوجاپان ترمنځ لومړنی تړون لاسلیک شو چې دهغه له مخې وروستۍ کښتې ګانو دشیمودا ، هاکودات اوناکازاکي بندرونوته دورتګ حق ترلاسه کړ.

دغو تحمیلي تړونونو دجاپان حالات لاپسې کړکیچن کړل، دبهرنیو اجناسو راوړلو پرجاپاني اجناسو کلک ګوزار وه ،دهمدغو تحمیلي تړونونو پایله

داشوه چې دامپراطور پروړاندې مخالفتونه ډیر شي اوپه پای کې امپراطور درباریانو ،دبورژوازي دیوې برخې اوفیوډالي اشرافو ترفشارلاندې پرېکړه وکړه ترڅوپخوانی سیاست بېرته تعقیب کړي.

## دمئ جي بیاراتګ

په جاپان کې شوګوني حکومت له پردیو هیوادونو سره دتړونونو ټول مواد په ځېرسره عملي کول ،خوورسره جوخت یې په پټه دهغوی پروړاندې دمبارزې نقشې هم جوړولې.

امپراطور پدې لټه کې وه ترڅو دخپلې واکمنۍ لپاره پلویان پیداکړي.

دغه پټې نقشې په ښه ډول عملې کېدلې ، دبېلګې په توګه څو بریتانویان ووژل شول اوپه پردیو پورې اړوندو ځایونو ته اور واچول شو ، غربیانو په ځواب کې دجاپان ساحلي ښارونه بمبارکړل اوپه سلګونو بې ګناه انسانان یې ووژل.

په ۱۸۶۳ زیږدیز کال کې بریتانویانو کاکو شیما اوپه ۱۸۶۴ زیږدیز کال دبریتانیا ،فرانسې، امریکا اوهالینډ ګډو پوځي کښتیۍ ګانو شیمونسکي په ډېره بې رحمۍ په ګولیو وویشتل ، دغو اقداماتو دپردیو پروړاندې دجاپانیانو کرکه اونفرت لاپسې ډیر کړ. په ټول هېوادکې خلکو چغې وهلې ،ترڅوسره یوموټي شي اوبهرنیان له خپل هېواد څخه وشړي.

دشهزاده ساتسومااوشهزاده موري (چوشو ) سرتیرو اخطار ورکړ، که چېرې دبیګانه قوتونو دشړلو لپاره لازم اقدامات ونشي نودوی به دشوګونیانو پروړاندې پاڅون وکړي.

شوګونیانو خپل ځواکونه دهغوی مقابلې ته واستول اوورسره جوخت یې فرانسویانو اوبریتانویانو ته اجازه ورنکړه ترڅو دخپلو هستوګن ځایونو ددفاع په موخه خپل ځواکونه دهیواد داخل ته رادننه کړي . په سوداګري چاروکې دوارداتي توکو ګمرکي محصول پنځه سلنې ته ورسید.

دامپریالیستي هیوادونو دیپلوماتانو په فعال ډول دجاپان په کورنیو چاروکې لاس وهنې کولې.

فرانسې له شوګونیانو ملاتړکاوه ( دشوګوني سرتیرو لپاره یې وسلې برابرولې اودشهزاده ګانو پروړاندې یې دجګړې لګښت هم په غاړه اخستې وه ) اودبریتانیا دشوګونیانو له مخالفینو څخه ملاتړ کاوه اوهم یې دمرکزي واکمنۍ کمزوري کولو ته ډېره پاملرنه درلوده.

دغه مهال کورنۍ جګړه په چټکۍ سره پراخیده ،دوامداره بزګري جګړې رامنځ ته کېدلې ،یوازې دکځKii په ایالت کې ۱۳۰۰۰۰ بزګرانو په پاڅونونو کې برخه درلوده. په ۱۸۶۶ -۱۸۶۷ کلونو کې دجاپان ټولې مرکزي سیمې بزګري پاڅونونو نیولي وي ،مخالفو ځواکونو په ښارونوکې هم نفوذ وکړ. تردغه مهاله جاپاني روښانفکران داروپا دموکراتو پوهانو له نظریاتو سره اشناشوي وو. بورژ ازي لورې هم داروپا دصنعتي توکو پروړاندې دجاپان دبندرونو له پرانستلو سره مخالف وه.

ددغې مبارزې اصلي جګړه ایز ځواک دجنوب اوجنوب فیوډالي طایفې وې چې په فعاله توګه یې له بهرنیانو سره راکړه ورکړه کوله. په ۱۸۲۸ او ۱۸۲۹ کلونو کې جګړو دوام درلود خو په پای کې دترازوپله دشوګوني ضد قواو په لور درنه شوه . په نوی حکومت کې واک دساتسوما طایفې ته ورسید .

دوی غوښتل ترڅو هیواد یوموټی اوداروپایې ژوندانه طریقه په ځانګړي ډول دوسلو اوتکنالوژي په برخه کې غوښتل ترڅو هېواد یوموټی اوداروپایې ژوندانه طریقه په ځانګړي ډول دوسلو اوتکنالوژي په برخه کې مروجه کړي ، دغه سیاست دبزګرانو له غوښتنو سره سمون نه درلود ،ځوک چې دفیوډالي اړیکو دلغوه کولو اوددوی ترمنځ دځمکو دویش غوښتونکي وو.